# طاقت بښونکي فکرونه



ژباړه او ټولونه: مصطفی صفا

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم



## کتاب پېژندنه:

================================


- د کتاب نوم: طاقت بښونکي فکرونه
- ژباړه او ټولونه: مصطفی صفا
- خپرندوی:مازیگر خپروندویه ټولنه
- کمپوز:مصطفی صفا
- چاپکال: ۱۳۹۲هـ ل
- چاپـشمېر: ۱۰۰۰ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

## سرلیک


- ته مهم يې
- د انتوني رابينز طاقت پاله خبرې
- د ډېوېډ شوارتز فکرونه
- د جکسون براون مهمې خبرې
- د جيم ران هڅوونکې خبرې
- د برايان تريسي اغېزناکې جملې
- د ډيل کارنيګي پوهونکې خبرې
- د جودي اشبرګ فکرونه
- د ماکسول مالتر فکرونه
- د سمويل سمايلز فکرونه
- د باب پراکټر فکرونه
- د ناپليون هيل فکرونه
- د وين ډاير فکرونه
- د کاټرين پانډر فکرونه
- د سپنسر جانسون پنېر
- ژوند
- اوچت ژوند ته درسېدو اووه اقدامه
- الهام ښښونکې جملې
- سرچينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ته مهـم یې!

**«ته» د هر انسان لپاره، «ته» ستا لپاره، چې همدا اوس دغه کرښې لولې.**



- په دې دنیا کې ستا د شته والي ګڼ دلیلونه شته، خو ترټولو اوچت دلیل دا دی، چې ته یومهم څوک یې چې دنیا ته د راتګ چانس درکړل شوی، که چېرې مهم نه وی، نو دلته به له بېخه راغلی نه وی!

- ته په نړۍ کې یو نوی شخص یې، ستا په څېره، خوی او خصلت باندې څوک په نړۍ کې لا تر اوسه نه دی تکرار شوی؛ ته په نړۍ کې یوه نوې زیاتونه یې او همداسې ته نړۍ ته ددې لپاره راغلی یې، چې په نړۍ باندې یو نوی څه ور زیات کړې!

- ته هسې تصادفي نه یې پیداشوی! ته هماغه څوک یې چې د خدای(ج) امانت دې په غاړه دی، هاغه امانت چې ځمکې، اسمانونو، غرونو او دریابونو یې له منلو څخه عاجزي ښودلې وه، هماغه امانت چې د هستۍ په ټول نظام کې یې یوازې تا د منلو وړتیا درلوده... ته لوی خدای(ج) د خپل خلقت شهکار ګرځولی یې او د ټولو ښېګڼو مستحق یې ګڼلی یې...ته نړۍ ته ددې لپاره راغلی یې، چې خپلې توانايۍ وپېژنې، او د خپل وجود دننه خزانو ته لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسی پیداکړي، خدای(ج) له تا غوښتي چې یوه داسې آیینه ووسې، چې د هغه(ج) بې ساري جمال ته انعکاس ورکړي...ته ځان ته په کمه سترګه مه ګوره، ته ارزښتمن يې، ته د ځمکې پر مخ د خدای خلیفه يې، ته د ټولو ښېګڼو مستحق يې او ستا د ژوند د کتاب ټول مسایل حلېدونکي دي.

- هغه وخت چې باید په خپل جلال او پرتم پوه شې، همدا «اوس» دی.
- ستا ژوند په تا پورې اړه لري، ته د خپل ژوند مسئول يې او یوازنی سړی چې ستا ژوند باید په لاس کې واخلي، هغه ته پخپله يې، نو د خپل ژوند د لاسته راوړلو او د هغه د منسجمولو لپاره فوراً اقدام وکړه.
- ته خپل ځان له سره وپېـژنه، ستا په وجود کې عظمت او سترتوب پټ دی، په خپل ځان وویاړه، خپل ځان تشویق کړه، ځانته شاباسی ووایه، هره لحظه د ځانـښایستګی احساس وکړه، او خپل ځان سالار او مخکښ احساس کړه... ځکه «ته همغه یاست، چې کېدل يې غواړې!»
- ځان وپېژنه، ترڅو چې ځان ونه پېژنې، نورو ته د ورکولو څه شی نه شې درلودلی.
- له ځان سره مینه وکړه او ځان ته درناوی وکوه، ترڅو هغه کسان د ځان په لور جذب کړې ، چې له تاسره مینه لري او تاته درناوی کوي.
- ته باید په خپله د خپل ژوند توره تخته شې او هر هغه څه پرې ولیکې چې ته يې غواړې.
- خپلې پخوانۍ ستونزې، کلتوري ملاحظات او ټولنیز بدلونونه ځنګ ته کړه، ته یوازنی کس يې چې خپل ژوند همغسې چې له تاسره ښايي جوړولی او پنځولی شې.
- ستا د غوښتنو د پوره کېدا لپاره لنډه لار داده، چې خپلو غوښتنو ته د یوه حقیقت په توګه وګورې. هېڅکله ښه شیان ستا لپاره نه خلاصېږي، ځکه چې په دې نړۍ کې هرچاته د هغه له اړتیاو سره سم ډېر نعمتونه شته ... ژوند یعنې د نعمتونو پرېماني!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه کسان قرباني کېږي، چې خپل ژوند د نورو د حکمونو په اساس اداره کوي. هغه وخت چې ستاسو د ژوند د اداري او لارښوونې خبره رامنځته کيږي، هیڅکله له ځان پرته په بل انسان تکیه مه کوئ.
- د ژوند چارو ته توجه یوازې په دې معنا نه ده، چې خپلې ستړګې پرانیستې وساتئ، بلکې د خاصو پروګرامونو زده کول او ګام په ګام د هغوعملي کول ضرور دي.
- د خپل ورځني توب او روزمرګی اسیران مه کېږئ، آیندې ته طرح ولرئ او د خپلو ډېرو موفقانه اعمالو وړاندوینه وکړئ.
- تصمیم ونیسه، چې ژوند وکړې، نه دا چې هسې ورځ تېره کړې، ژوند ستا لپاره یو فرصت دی، په دغه فرصت کې په هغه چا بدل شه، چې ته ورباندې افتخار کوې.
- خپلې مراندې په خپله وخوځوئ، موږ په ناخرګندو مزیو له خپل ډار سره تړل شوي یو، موږ نانځکې یو او په خپله ددغو نانځکو ګډوونکي هم یو او د خپلو هیلو او غوښتنو قربانیان هم.
- تل پر ځان باور ولرئ، که چېرې مو یوازې یوځل هم کوم کار په موفقیت سره ترسره کړی وي، بیا یې هم کولی شئ.
- مسئولیت ته غېږه ورکړه، پرېږده چې هرڅه پیښېږي، پیښ دې شي.
- له یاده مه وباسئ! د ژوند د بدلون امکان شته، نورو دا کار کړی دی.
- شدیدې غوښتنې ولره او غوره شیان وغواړه، ترڅو چې غوره توبونه تر نورو لومړی ستا په لور جذب شي.
- تصمیم بېل شی دی، هغه له خپلو خیال پلوو سره مه ګډوئ، که چېرې ستاسې تصمیم کوم عمل رامنځته نه کړي، نو په دې پوه شئ، چې واقعي تصمیم مو نه دی نیولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د خپلو هیلو او ځان ترمنځ فاصله، یوازې په یوه مثبت او قاطع تصمیم سره ډکه کړئ.
- هدف ته د رسېدلو لومړی گام د هدف درلودل دي. هدف ولرئ، چې خلاق فکر وکوئ، هدف ولرئ، چې په رگونو کې مو حرکت پیدا شي، هدف ولرئ، چې ژوند درته خپل سم مخ راواړوي، هدف ولرئ، چې د شخصیت پرمختگ ته مو شور او شوق راوپاري او هدف ولرئ، چې ژوند مو له محدودیت او محرومیت څخه ووځي او د یوه فعال، شتمن او جالب انسان په بڼه څرگند شئ.
- کله چې د کوم کار د کولو لپاره ملا تړې، په بشپړ ډول د شک دروازې وتړه.
- تاسې خدای(ج) درانه پیداکړي یئ او په درنښت ارزئ، که چېرې خپل ځان په وړه تله وتلئ، نو همداسې به سپک او واړه وخېژئ.
- سخت کار وکړه، سخته لوبه وکړه او دنیا ته بدلون ورکړه.
- قدرت او تسلط دا دی، چې خپل ژوند ته بدلون ورکړئ، خپل فکري جریانات بدل کړئ، خپل کردار کنترول کړئ، خپل پلانونه رهبري کړئ او هغه نتایج په لاس راوړئ، چې هیله یې لرئ.
- د ژوند په هره برخه کې د لوړتیا او عالي والي فکر وکړی، ځکه ته نړی ته ددي لپاره راغلی یې، چې په نړی باندې یو نوی څه ور زیات کړې. ستاسې ژوند ستاسې د افکارو غبرگون دی، که چېرې خپل افکار بدل کړې، نو ژوند مو ورسره بدلېږي.
- د یو مثبت بدلون لپاره پر خپل ځان باور ولره، خپل ځان کشف کړه او خپل شخصیت تر ذره بین لاندې ونیسه، ترخو ناکاره عوامل له هغه څخه لرې کړې، په ځانگړي ډول هغه عوامل چې له هغه څخه خبر نه یې.
- ستا سرنوشت د ټول بشریت په سرنوشت باندې اغېز اچوي! له همدا اوسه مسئولانه تصمیم ونیسه، ژوند په خپلو الفاظو تعریف کړه او تل د یو بهترین کس په توگه ژوند وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له خپلې ارادې سره ووایه: زه باید موفق شم! زه باید موفق شم! زه له موفقیت پرته بله چاره نه لرم.
- خلک چې هرڅه کوي، کوي یې دې، خو«ته» د قهرمان کېدو لپاره زېږېدلی یې!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «انتوني رابینز» طاقت پاله خبرې



- زموږ تېر ژوند او ماضي، زموږ د راتلونکي ژوند او آیندې ټاکونکی نه دی. همت وکړه، د ځان لپاره نوی او طاقت بخښه هویت وغواړه؛ له همدا نن څخه پیل وکړه.
- هر کله چې د خپل هویت او شخصیت په هکله نوی او تازه باور پیداکوو، همغه وخت زموږ چال چلند او رفتار هم د همدغه نوي شخصیت او هویت لپاره تغیر او بدلون کوي. ډېر وایي، خپل ځان او هویت ته بدلون ورکول ناممکن دي، عموماً وایي « زه همداسې یم»، خو دغه یو داسې عبارت دی، چې د انسان ټولې هیلې او آرزوګانې وژني.
- که چېرې اطمنان ولرې، چې یو غیرعادي او فوق العاده انسان یم، په دې وخت کې په تاسې کې داسې منابع فعالېږي او ستاسې په سلوک او چلند کې ځان راښکاروي، چې کټ مټ ستاسې له دغه اطمنان سره جوړجاړی ښیي.
- خبر ولرئ، تاسې هغه نه یئ، چې نور خلک ستاسې په اړه څه وایي او فکر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تر ټولو سترخطر چې زموږ د ژوند کیفیت له منځه وړي، هغه تخریبونکي افکار او تخریبونکي باورونه دي.
- موفق خلک پوهېږي، چې موفقیت هغه سیکه ده، چې بل مخ یې ناکامي نومېږي. ناکام او ماتې خوړلي خلک هغه دي، چې د ناکامۍ په مخ کې یې ولاړ پاتې کېږي.
- زیاتره کسان دې پوهېږي، چې په ژوند کې باید څه وکړي، خو هېڅکله په عمل باندې لاس نه پورې کوي. دا ځکه چې دوی د خپلې ډاډمنې او موفقې آیندې د جوړولو لپاره په کافي اندازه انګېزه نه لري او همداسې ځینې وایي، زه یو ټنبل انسان یم، په داسې حال کې چې دوی ټنبل نه، بلکې انګېزه بخش هدفونه نه لري...« هر بدلون او خوځون ترډېره په توان او طاقت پورې اړه نه لري، بلکې په یوه نېغه او طاقت خوځوونکې انګېزه او الهام پورې اړه لري.»
- موږ ټول پوهېږو، یو شمېر انسانان شته، چې په ناز او نعمت کې زیږیدلي او رالوی شوي دي. دا ډول افراد ، شتمن مور او پلار لري او په ځانګړې چاپیریال کې وده کوي؛ له سالم او قوي بدن څخه برخمن وي؛ هر ډول اړتیاوې یې رفع کیږي او په ژوند کې هېڅ کمی نه احساسوي. ددغه ډول افرادو په مقابل داسې انسانان هم شته، چې په یوازې توګه په شرایطو برلاسي کیږي، د دوی یو دلیل دا دی، چې دوی په مستقلانه ډول تصمیم نیسي ، په مسئولانه ډول د ژوند چارې سرته رسوي او په دې ترتیب یو ستر انسان ورڅخه جوړېږي. ددغه ډول خلکو د بریالیتوب راز په څه کې دی؟ دوی چې کوم وخت احساس کړي، چې نور ه ورته کومه لاره نه ده پاتې ، نو په یوازې سر تصمیم نیسي ، تصمیم نیسي او وروسته بیا تر ټولو غوره لارې ټاکي، دوی د ځان لپاره واقعي پریکړې او تصامیم غوره کوي او په دې توګه یې ژوند بدلون مومي.... ټول وګړي نه پوهیږي چې رښتینی او واقعي تصمیم څه شی دی. دا ډله خلک فکر کوي، چې پریکړې او تصمیمونه په واقعیت کې د هیلو فهرست دی. دلته خبره په «واقعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصمیم نیونه کې ده»...که چیرې په واقعي او جدي توګه په ژوند کې د بدلون اراده لرئ، نو جدي او واقعي تصمیمونه ونیسئ!

- که چېرې پر موفقیت باندې عقیده ولرې، ستاسې په وجود کې هغو ته د رسېدلو لپاره لازم ځواک او طاقت ایجادېږي او که چېرې په ماتې باندې عقیده ولرې، ماتې خورې.
- که چېرې غواړو د خپل ژوند اداره په خپل لاس کې واخلو، نو باید په ځانخبره او آګاهانه ډول خپل باورنه کنترول کړو.
- اوس ددې وخت رارسېدلی، چې نور له هغو باورونو او خیالونو څخه فاصله ونیسو، چې نور مو په درد نه لګي او مرستندوی راسره نه شي واقع کېدلی.
- که باور ولرې او که یې ونه لرې، ته د خپل ژوند اصلي طراح بلل کېږې.
- په دې فکر مه کوئ، چې په تېرمهال کې څوک وم، بلکې تصمیم ونیسه، چې په راتلونکي مهال کې یو څوک شې.
- د ژوند په معادله کې هېڅ وخت تېرمهال له راتلونکي سره مساوي نه دی.
- هغه څوک چې نړۍ ته ټکان ورکوي او د نړۍ د لړزولو طاقت لري، معمولاً زموږ لپاره ډېره ښه نمونه کېدلای شي. دغه ډول کسان زیاتره د نورو له تجربو څخه په استفادې هره ورځ نوي شیان زده کوي او خپل هېڅ یو فرصت نه ضایع کوي. هغوی فکر نه کوي، چې باید ټول شیان پخپله په یوازې سر تجربه کړي، بلکې تر خپلو تجربو زیات د نورو له تجربو ګټه اخلي. د دا ډول کسانو یولوی توپیر له عادي وګړو سره په دې کې دی، چې دوی تل د خپلو هیلو او آرزوګانو لپاره هڅه او تلاش کوي او د عمل کولو قدرت لري.
- اوچت او عالي اهداف د عمل سبب کېږي.
- ژوند همغه څه تاته دربښي، چې ته یې ترې غواړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډېری کسان غواړي، نويو پايلو او نتايجو ته ورسېږي، مګر خپلې لارې او روش ته بدلون نه ورکوي. که چېرې يوځاکلی کار بيا بيا تکرارکړو او له هغو څخه د بېلابېلو پايلو تمه ولرو، دا يولېونتوب دی. که چېرې زه او تاسې پرمخکنيو لارو ګامونه واخلو، طبعي ده کوم نوي ځای ته نه رسېږو، بلکې همغه ځای ته رسو، چې مخکې ور رسېدلي وو.
- ته د هغو مناسبو ورځو د راتلو په تمه مه کېنه، چې په هغو کې به خپل ځان ته بدلون ورکړې، بلکې د خپل ځان په بدلون سره به مناسبې ورځې ترلاسه کړې.
- تاسې يوازې هغه مهال ماتې خورئ او له ماتې سره مخامخ کېږئ، چې له ځانه سره ووايئ:«زه مات شوم!»
- که چېرې په پوره او بشپړ ډول د خپلو افکارو ترتاثر لاندې راشئ، ستاسې د وجود د ننه يوځواک آزادېږي او دغه ځواک ستاسې د هيلو او آرزوګانو په رنګ عمل توليدوي.
- په ياد ولرئ، که چېرې په دايمي توګه د کوم شي په اړه فکر وکړئ او په هغو باندې هر وخت چورت راوڅرخوئ، نو تاسې د همغه شي په خوا حرکت کوئ، دغه طريقه د خپلې ذهني شبکې د هدفمنولو او فعالولو بهترينه طريقه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «ډېويډ شوارتز» فکرونه



- مهمه نه ده، چې زموږ موقعيت پخوا څه ؤ او اوس څه شی دی؟ مهم هغه راتلونکی دی، چې د هغو د لاسته راوړلو لپاره په هڅه او تلاش کې يو.
- که چېرې تنګ نظره خلک د خپلو صميمي ملګرو په توګه غوره کړئ، تاسې هم ورسره ورو، ورو په يوه تنګ نظره انسان بدلېږئ.
- که چېرې د زړه له تله باور ولرې، چې بريالی کېږم، نو حتماً به بريالی راووځې.
- يوازې حاضر او موجود وضعيت مه وينئ، د سبا امکانات هم په نظر کې ونيسئ.
- لوی فکر وکړئ او لوی نتايج لاسته راوړئ.
- له خپل ذهن څخه د مسايلو د تحليلولو او سنجولو لپاره استفاده وکړئ، نه د اطلاعاتو د انبارولو لپاره.
- تل داسې فکر وکړئ، چې زه ددې لپاره يو مهم کار ترسره کوم، چې يو مهم او با ارزښته انسان ووسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- موږ کولی شو، خپله ماتې پر موفقیت بدله کړو، یعنې په ټولو شرایطو کې زده کړه وکړو او بیا خپله زده کړه په کار واچوو.
- د خپل ځان د جوړوني او سموني لپاره د یوه نقاد او کره کتونکي جرئت او شهامت ولرئ، خپلې نیمګړتیاوې او عیبونه لومړی کشف کړئ او بیا یې له منځه یوسئ.
- په ټولو موقعیتونو کې قدرپېژندنه مه هېروئ، داسې کار کوئ، چې خلک د ارزښت او اهمیت احساس وکړي.
- په یاد ولرئ، هر وضعیت او حالت لکه د سیکې دوه مخونه لري، ښه او بد؛ تاسې یې هغه ښه مخ راپیداکړئ، مثبت اړخونه ووینئ او مایوسی ته مه تسلیمېږئ.
- خپل شخصیت د «خپل ځان کوچینی مه وینئ!» تر شعار لاندې بشپړ کړئ.
- کله چې د خپل ځان لپاره کوم هدف ټاکئ او د هغو د لاسته راوړلو لپاره په تلاش او هڅه باندې لاس پورې کوئ، نو سمدم ستاسې طاقت او انرژي ورسره زیاتېږي او حتی د پخوا په پرتله څو برابره کېږي.
- هدف یو داسې شی دی، چې غواړو هغه په لاس راوړو، هدف له خیال او خوب څخه لوړ شی دی، هدف یوه داسې انګېزه ده، چې د هغو د تحقق لپاره کوشش کېږي، هدف کوم مبهم او ناڅرګند خیال نه دی. هدف یو زېږی دی او د هڅې او تلا ش لپاره یوه روښانه انګېزه ده. له هدف څخه پرته هېڅ شی نه واقع کېږي، هېڅ یو ګام نه اخیستل کېږي، که چېرې هدف نه وي، د انسانانو لپاره ژوند بې معنا دی، د انسانانو هېڅ حرکت لوری نه پیداکوي او هېڅوک نه پوهېږي، چې په کومه خوا روان دی.
- ځانته ذهنې بلاوې مه جوړوه؛ ناوړه خاطرې هېرې کړه، هغه چېرې لرې دفن کړه او خپل ذهن ترې سپک کړه. یوازې مثبت افکار د خپلې حافظې له بانک څخه را واخله، پرېږده هغه نور دې هملته ځای پرځای پاتې، هېر او بالاخره محوه او نابود شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د خلکو د مثبتو اړخونو او د ستاينې وړ خصوصياتو لټونه او يادونه کوئ، نه د هغو د ناوړه او ناکاره عيبونو. پام مو وي، نور وګړي ستاسې فکر او نظر د خلکو په اړه تر اغېز لاندې رانه ولي. تاسې له خلکو نه يو مثبت تصوير په خپل ذهن کې ولرئ او مثبې پايلې ترلاسه کړئ.
- د غوږ نيولو هنر له ځانه سره تمرين کړئ، د موفقو اشخاصو په خبر عمل وکړئ، نور خلک خبرو کولو ته تشويق کړئ، نورو ته وخت ورکوئ، چې تاسو ته د خپلو فکرونو، کارونو او موفقيتونو په هکله وغږېږي.
- په خپل ټول ځان او روان سره د ژونديتوب او ګړنديتوب احساس وکړئ.
- هرکار چې کوئ، پکې بهترين او لومړی درجه ووسئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «جکسون براون» مهمې خبرې



- کله چې د زړه له تله خوشاله وې، پرېږده چې دغه خوشالي دې په څېره کې هم معلومه شي.
- د هغې موضوع په اړه قضاوت مه کوه، چې سم پرې پوهېدلی نه یې.
- په یاد ولره، درناوی او احترام ټول کسان تر تاثیر لاندې راولي.
- ورو خبرې کوه او تېز فکر.
- خپل هر موفقیت له واقع کېدو څخه مخکې مه اعلانوه.
- په یاد ولره، په ځینو وختونو کې سکوت ترټولو ښه ځواب دی.
- کله چې چا ته وایې، چې له تا سره مې زړه غواړي او یا ستا له شخصیت سره علاقه لرم، خپله دغه ادعا په عمل کې ورته ثابته کړئ.
- هڅه وکړه، چې د خپلو ماشومانو لپاره ترټولو ښه معلم ووسې.
- په ځینو وړو مشکلاتو باندې د لویو مشکلاتو په څېر ځان مه زیانمنوه.
- کله چې ستاسې تعریف او ستاینه کېږي، نو په صمیمانه ډول یوه «مننه» ویل، ستاسې ترټولو غوره ځواب دی
- هېڅکله مه تسلمېږه، هره ورځ نوې معجزه رامنځته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له خپلې خوش طبعۍ څخه د خوښۍ او خوشالۍ په موخه کار واخله، نه د سوی استفادې او نېش وهلو لپاره.
- زړور ووسه، زړور چلند وکړه، که چېرې مخکې زړور نه وې هم، خو اوس زوړو ښرگند شه، هېڅ څوک به ونه وايي، چې ته خو پخوا داسې زړور نه وې.
- چوپتیا او غوږنیونه زده کړه، ځینې وخت ډېر لوی فرصتونه ستړي ته په کراری او آرامۍ کې ځان ښرگندوي.
- کومې اداري ته چې ځې، کوم ځای دې چې کار بندېږي او یا له کوم نوي چا سره چې په کوم کار او مجلس کې مخ کېږې، لومړی ځان معرفي کوه، له هغو سره ستا شخصي پېژندگلوي زيات اهميت لري.
- دعا وکړه، خو نه د باطله شيانو د زياتېدو لپاره، بلکې د عقل او زړورتوب د لاسته راوړولو لپاره لاسونه لپه کړه.
- هېڅکله له هغو څه نه مه نااميده کېږه، چې حقیقتاً يې د زړه له تله غواړې. څوک چې لويې هيلې لري، تر هغو چا زيات قوي دی، چې يوازې واقعيتونه په لاس کې لري.
- د قهر په وخت کې هېڅکله لاس په عمل درنه پورته نه شي.
- پرېږده خلک هم درباندې پوه شي، چې په کوم ځای کې پرخپل دريځ کلک درېږې او په کوم ځای کې نه درېږې.
- همېشه او په هر حال کې پر خدای توکل وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «د جیم ران هڅونکې خبرې»



- هر حرکت له پرمختګ سره مه اشتباه کوئ، ته په اسانۍ سره کولی شې څان وغولوې، چې «ماغزه مې بوخت دي»، خو مهمه دا ده چې «ماغزه دې په څه شي بوخت دي؟»
- یوازې انسان کولی شي، چې په هر وخت کې اراده وکړي او د خپل فکر په سمون او بدلون سره خپل ژوند له سره ورغوي.
- مخکې به تل ویل: «خدای دې وکړي، چې شرایط بدل شي!» وروسته وپوهېدو، چې اوضاع او شرایط به هغه وخت بدل شي، چې موږ بدلون وکړو.
- موفقیت کوم داسې شی نه دی، چې ته د هغو په لټه کې شې. موفقیت چې کله په تا کې لازم تغیرات او بدلونونه ووینې، پخپله درته راجذبېږي.
- وخت له پیسو څخه ارزښتمن دی، ته کولی شې زیاتې پیسې لاسته راوړې، مګر زیات وخت نه شې لاسته راوړلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هېڅکله هغه ورځ مه پیلوه، چې مخکې له مخکې دې د کاغذ پرمخ پای ته نه وي رسولې.
- مدیران له خلکو سره دا مرسته کوي، چې خپل ځان داسې ووینې، لکه څنګه چې دی. او رهبران بیا له خلکو سره دغه مرسته کوي، چې خپل ځان تردې بهتره ووینې، لکه څنګه چې دی.
- د نورو خلکو فکري ستراتیژۍ او برنامې مه کاروه، خپله فکري فلسفه جوړه کړه، وبه وینې چې تاسې بې ساریو ځایونو ته هدایتوي او کنه.
- مالي استقلال ته د رسېدلو لپاره باید د خپلو لاسته راوړنو یوه برخه په سرمایه بدله کړې. سرمایه په کار واچوې. له هغې نه ګټه واخلې، بیا هغه ګټه سرمایه کړې او د هغې سرمایې او پانګې له ګېډې څخه بیا مالي استقلال راوباسې.
- د فقیرانو او بډایانو فلسفه دا ده، چې بډایان خپلې پیسې لومړی پانګونې او سرمایه ګذارۍ ته ځانګړې کوي او پاتې یې خرڅ او مصرف ته. او فقیران خپلې پیسې لومړی خرڅ او مصرف ته ځانګړې کوي او په پاتې یې بیا پانګونه او سرمایه ګذاري کوي.
- که چېرې د خپل ژوند په وضعیت او حالت باندې راضي نه وې، نو بدلون ورکړه، کومه ونه او بوټی خو نه یې!
- کله چې پوه شوې، چې نه شم کولی خپلو مشخصو اهدافو ته ورسېږم، نو په خپلو اهدافو کې لاس مه وهه، په خپله ستراتیژۍ او تګلاره کې لاسوهنه وکړه.
- د نورو له نظریاتو څخه د خپلې پوهې په زیاتونه کې استفاده وکړه، مګر خپل تصمیمونه د خپلو پایلو او نتایجو پر اساس وټاکه.
- خپل ښه فکرونه او تصمیمونه راټول کړه، مګر پخپله حافظه باور مه کوه؛ ستا د فکرونو، پلانونو او تصمیمونو د خوندي کولو لپاره ترټولو غوره ځای ستا د ورځینو یادښتونو کتابچه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د جذابو خلکو د جذبولو لپاره باید جذاب ووسې. د قدرتمنو خلکو د جذبولو لپاره باید قدرتمند ووسې. د ژمنو او متعهدو خلکو د جذبولو لپاره باید ژمن او متعهد ووسې. دغه ټولو مسایلو ته د کتو پرځای، پر خپل ځان باندې کتنه وکړه؛ که چېرې لازم بدلونونه او تغیرات په خپل ځان کې ایجاد کړې، جاذبه هم پیداکوې.
- باید په دې باندې سرخلاص کړې، چې خپل قوي عقل او احساسات د کار په ژبه وژباړې.
- ډېرې وختونه هغه څه چې موفق خلک له ناموفقو خلکو څخه بېلوي، یوازې دادي، چې موفق خلک د عمل والا دي.
- ته په تنهایی او یوازیتوب سره نه شې کولی موفق شې، گوښه گیره بډایان ډېر کم پیدا کېږي.
- یوازې پېښې نه دي، چې ستا د راتلونکې ژوند لویه برخه جوړوي، حوادث او پېښې د هرچا لپاره پېښېږي، مهم ددغو پېښو پر وړاندې ستا اقدام دی.
- پخپله پر ستونزه تمرکز مه کوه، په حل باندې يې تمرکز کوه.
- که چېرې هدفونو ته پاملرنه وکړې، هدفونه تاته مخ را اړوي؛ که چېرې پر خپل پلان او ستراتیژی باندې مصروف شې، هغه پر تا باندې مصروفېږي. د هر ښه شي په رغولو او پنځولو باندې چې لاس پورې کوې، په پای کې هغه پخپله تا د جوړښت او سمون خوا ته بیایي.
- ترډېره بریده ترټولو اوچت فرصتونه د ژوند د ځینو کم اهمیته پېښو تر شا پټ وي، که چېرې دغه ډول پېښو ته پاملرنه ونه کړو، په اسانی سره به خپل لوی فرصتونه ضایع کړو.
- موفقیت زیاتره په «خنگه یم» پورې اړه لري، نه په «څه لرم» پورې.
- له راحت طلبه افرادو سره ډېره ناسته ولاړه مه کوئ، ځکه هغه ستاسو له رشد او ودې سره مرسته نه شي کولی. له هغه کسانو سره ناسته پاسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولرئ، چې د کارونو په ترسره کولو کې له ځانونو سره سخت ګیري وي او له خپله ځانه زیاتې تمې او هیلې لري.

- رسمي زده کړې او تحصیلات تا ته د معاش اخیستو امکان درکوي، خو ځینې شخصي زده کړې، مهارتونه او بیدارۍ له تا څخه دولتمند جوړوي.
- کله چې په کوم کار باندې بوخت وې، کار کوه او کله چې په کومه لوبه باندې بوخت وې، لوبه کوه، مګر په عین وخت کې دا دواړه مه سره ګډوه.
- له موږ څخه هر یو باید د ټولو د آبرو او پت ساتندوی وي، او همداسې موږ ټول باید د هر یوه یوه د آبرو او پت ساتندوی ووسو.
- یوازې په دې لټه کې مه کېږه، چې کسب او کار تا ته څه درکړي، ورسره دا هم وغواړه چې له تا څخه هم څه جوړ کړي.
- کله چې پوه شوې، چې څه غواړم او په خپل ټول توان او ځان سره د هغو غوښتونکی ووسې، یقیناً هغو ته د رسېدلو لار پیداکوې.
- پرېږده نور وړه دنیا ولري، مګر ته نه! پرېږده د نورو په ځینو معمولي شیانو باندې د تاوې ماوې غږ پورته شي، مګر ستا نه! پرېږده د نورو له جزوي اندېښنو سره اوښکې تویې شي، مګر ستا نه! پرېږده نور یې خپله آینده د بل چا په لاس کې ورکړي، مګر ته نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «برایان ټریسي» اغېزناکې جملې



- ددې لپاره چې کوم نوی کار پیل کړې، باید خپل زوړ کار پای ته ورسوې او یا  یې نور ونه غځوې. یو ځای ته ننوتل، له بل ځایه وتل دي او د یوه بار پورته کول، د بل بار په ایښودلو سره کېږي.
- تل په هغو لارو چارو باندې فکر وکړئ، چې د هغو په وسیله خپل وخت را زیات کړئ او  له دا شان  رازیاتو کړیو وختونو څخه د خپلو هغو مهمو کارونو په ترسره کولو کې استفاده وکړئ، چې ستاسې پر ژوند او کار باندې ترټولو  زیات تاثیر لري.
- کله چې خپل ترټولو مهم کار ټاکې، نو د بل کار  راګډول، ستاسې د وخت د ضایع کېدو پیلامه ګرځي، ځکه بل هېڅ شی ستا د  اولیت بندی  او لومړیتوب په پرتله مهم نه دی.
- خپلو هدفونو ته وخت ځانګړی کول، د هغه لپاره پلان او ستراتیژي جوړول او د لاسته راوړلو لپاره یې لاس په عمل پورې کول، دا هغه یوازنی تمرین دی، چې په یوازې سر کولی شې، ستا ژوند واړوي او  مثبت بدلون ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- همدا اوس د کاغذ یوه پاڼه راواخلئ او خپل هغه هدفونه ورباندې لېست کړئ، چې غواړئ په راتلونکي کال کې يې ترلاسه کړئ. دغو هدفونو ته وخت ځانګړی کړی، ستراتيژي ورته جوړه کړئ او په ليکلو کې يې اوسمهاله زمانه او متکلم ضمير وکاروئ، ټول هدفونه بايد په واضح او قاطع ډول بيان شي، په دې ډول ستاسې لاشعور او ناخودآګاه ذهن هغه تائيدوي.
- موفق خلک هغه څوک دي، چې خپلې لنډ مهال راحت طلبۍ او خوند اخيستنې ځنډوي او په کار او تلاش سره په راتلونکي کې نورې ارزښتاکې پايلې ترلاسه کوي او ناموفق خلک زياتره وخت ځينو بې دوامه خوښيو او خوندونو ته پناه وړي، په هغو کې فکر کوي او خپل راتلونکي ته ډېره کمه توجه کوي.
- که چېرې يو عادي او معمولي انسان وکولی شي، خپل مهم کارونه په روښانه او چټکه توګه د لومړنيتوبونو له مخې سرته ورسوي، د هغه نابغه په پرتله مخکې ځي، چې ډېرې خبرې کوي او ګڼې طرحې وړانديزوي، مګر په کار او عمل باندې لږ لاس پورې کوي.
- تل له خپله ځانه دغه اساسي او کليدي پوښتنې مطرح کړئ: په کوم کار کې واقعاً ترنورو ښه يم؟ د خپلو کومو کارونو له ترسره کولو څخه خوند اخلم؟ زما د موفقيت ترټولو ستر لامل څه شی ؤ؟ که چېرې وغواړم يو بل داسې کار پيل کړم هغه به کوم وي؟
- تل د کاغذ پرمخ فکر وکړئ او تل د لېست له مخې خپل کار پرمخ بوځئ، په دغه ډول به تاسې په خپله حيران شئ، چې کارونه مو څومره ښه او څومره ډېر پرمخ تللي دي.
- د هر کار ترپيلولو وړاندې له ځانه وپوښتئ، ددغه کار کول يا نه کول به زما پر ژوند کوم لوی تاثيرات ولري؟
- د موفقيت لپاره يوه اوچته طريقه پکار ده:«خپل فکرونه او هدفونه په کاغذ باندې ليست کړئ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستونزې او مشکلات موږ نه ځنډوي، هغه موږ روزي او زده کړه راکوي.
- د تلویزیون زیاته لیدنه بنده کړئ او هغه وخت خپلې کورنی، مطالعې، سپورت او هغه کار ته ور زیات کړئ، چې ستاسې د ژوند په ښه والي او بدلون کې مرسته کوي.
- د ژوند په ترټولو مهمو مسایلو کې په سرعت سره عمل وکړئ.
- که چېرې غواړئ پرنورو تاثیر ولرئ، تاسې هم باید له نورو څخه تاثیر واخلئ.
- خپل فکرونه کنټرول کړئ، په یاد ولرئ، تاسې همغه کېږئ، چې ورباندې فکر کوئ، یوازې پرهغه څه باندې فکر وکړئ او پرهغو څه له ځانه سره وغږېږئ، چې غواړئ ویې لرئ، نه پرهغو څه باندې چې نه یې غواړې.
- که چېرې دوه کارونه په مخ کې لرئ، لومړی هغه کار ته اوږه ورکړئ، چې تر هغه بل نه سخت، مهم او لوی وي.
- معمولي انسانان د خپل وخت ۵۰ فیصده په خپلو کم ارزښته کارونو او روابطو کې مصرفوي، تاسې څنګه یاست؟
- ددې لپاره چې څو کارونه په یو وخت ترسره کړې، د یوه یوه په ترسره کولو باندې تمرکز وکړه او په سم سم ډول یې پای ته ورسوه.
- د هر شکست او ماتې علت یوې خواته ځي:« له فکر، تصمیم او کنټرول څخه پرته په کار او عمل باندې لاس پورې کول!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «ډیل کارنیګي» پوهونکي فکرونه



- خوک چې موړ پوهولی شي، هغه کولی شي په موړ کې بدلون راولي.
- موقع یا چانس د چا کورته پخپله نه ورځي، باید ته پسې ولاړ شې.
- د ژوند په معاملاتو کې د بهانو د لټولو پرځای په خپلو اشتباهاتو او تېروتنو باندې اعتراف کوئ.
- که غواړئ خلکو ته ګران ووسئ، دا لومړنی اصل دی:«له نورو سره ربښتینې مینه ولرئ»
- بشر د تسلي د موندلو لپاره همدردۍ ته اړ دی، نو په دې خاطر که غواړئ، نور له ځانه سره ملګري کړئ...« د نورو له فکرونو او باورنو سره همدردي وښیئ.»
- د یوه ناسم ځواب او بدسړي سره د چلند پروخت ښه لاره دا ده، چې ګویا دیوه پتمن او ښه سړي سره مخ یاست، ستاسې ددې چلند نه هغه اغېزمن کېږي او کېدای شي، ځان ستاسې له تصور سره سم جوړ کړي.
- که غواړئ چا ته خدمت وکړئ، د ښه نوم خاوند یې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاسې چې د هرې طبقې یاست، سوداګر، ښوونکی، انجینر، ډاکتر، پلورونکی او یا حتی د کور مېرمن؛ دې ته اړ یاست، چې وپوهېږئ له دوستانو سره څه ډول راشه درشه وکړئ... د کارینګي د موسسې له خوا د یوه انجنیر د ۱۰۰٪ بري د څرګندولو لپاره یوې څېړنې وښوده، چې ددې انجنیر د بري لپاره دده پوهه او سواد په سلو کې ۱۶٪ رول لوبوي او په سلوکې ۸۵٪ پاتې له نورو سره دده د سلوک، برخورد او راشې درشې رول مهم دی.

- کېدای شي، چې تاسې په کوچینوالي کې ستونزې ګاللې وي؛ خو اوس یې له یاده وباسئ، ځکه چې د ستونزو د تېرولو وخت مو تېر شوی دی؛ اوس ته ځوان یې، هېڅوک ستا مخه نه شي نیولی. ستا دا فکر ناسم دی، چې ځان نیمګړی بولې. له تا وړاندې ستاسې په څېر ډېر خلک تېرشوي، چې له هغو نه تاسې په روحي او جسمي لحاظ غوره یاست، هېڅکله ځان ته په کمه سترګه مه ګورئ!

- د وخت تېرېدل پخپله ستونزې هواروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «جودي اشپرګ» فکرونه



- که چېرې ونه شې کولی، په واقعي ډول له خپله ځانه سره مینه ولرې؛ د یوه نېکمرغه ژوند درلودل به ستا لپاره ډېر مشکل وي. لومړی څوک چې باید علاقه ورسره ولرې، هغه کس په خپله «ته» یې.
- یوازې ظاهري ښکلا نه ده، چې یوشخص جذاب معلوموي، که چېرې تاسې د خپل ځان په اړه د ښکلا او ښه توب احساس وپالئ، جذاب به ثابت شئ.
- دې ته ډېر مه اندېښمن کېږئ، چې نور خلک ستاسې او ستاسې د ژوند په اړه څه فکر کوي؛ ځکه زیاتره خلک پرځای ددې چې ستاسې د ژوندانه په اړه فکر وکړي، له خپل ژوند سره بوخت دي او په هغو کې فکر کوي.
- هغه وګړي چې تاسې تحقیروي او تاسې نه مني؛ هغه ستاسې لپاره مناسب خلک نه دي. که چېرې دغه ډول خلک له تاسو سره خپل چلند نه بدلوي، نو تاسې باید له خپله ځانه وپوښتئ، چې څنګه له دغه ډول خلکو سره ناسته ولاړه کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لکه څرنګه چې د خپلې ارزښتمنې شتمنۍ ساتنه کوئ، داسې د خپل بدن ساتنه هم وکړئ، ځکه دا یو داسې شی دی، چې تل په تا پورې اړه لري او د عمر تر پایه پورې باید ستا لپاره کار وکړي.
- ترټولو لویه تحفه چې د خپلو اولادونو لپاره یې ورانديې کوئ، له هغو سره بې قید او شرطه مینه کول دي.
- د نورو په اړه سملاسي قضاوت مه کوئ؛ ښایي هغه څه چې فکر کوئ، د اشخاصو له ظاهري چارو څخه پوهېدلي وئ، ښايي په بشپړ ډول اشتباه وي. مورږ هېڅکله نه شو کولی، چې په پوره توګه وپوهېږو، چې د انسان په زړه او ذهن کې څه تېرېږي.
- مورږ تل د ژوندانه په اوږدو کې د بدلون او ودې په حال کې یو، باید په دې پوه وو، چې نور هم د مورږ په شان د بدلون په حال کې دي؛ باید خپل ځان او نور وګړي د تېرو کارونو له امله وبښو او د یوې بهتره راتلونکي په لوري حرکت وکړو.
- که چېرې مو ښه ماشومتوب نه درلود، کولی شئ تصمیم ونیسئ، چې ناسم لویتوب ونه لرئ. ددې لپاره چې وپوهېږو، زمورږ اوسنی ژوند له پخواني ژوند څخه څومره اغېزمن دی، د خپلې ارادې او تلاش ترڅنګ د نورو مرستې او لارښوونو ته هم اړتیا لرو.
- مورږ تر اندازې زیات اندېښمن وو، تاسې څه شي ته اندېښمن یئ؟ په سلو کې نهه نوي مورږ له هغو شیانو څخه اندېښمن کېږو، چې هغه هېڅکله نه پېښېږي.
- خوښي او خوشالي د ټولو حق ده، که چېرې مورږ د نورو د ناراحتی سبب شو، هېڅکله نه شو کولی په واقعي توګه خوښ او خوشاله ووسو.
- ماشومان زیاته خوشالي څرګندوي او لویان کمه، هرڅومره چې ځانته د خوښی کولو زیات فرصت ورکړئ، هغومره به خوشاله وئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- فرض کړئ په یوه بله نړۍ کې ژوند کوئ او له هغو ځایه کولی شئ خپل اوسنی ژوند په دقت سره وینئ. څه کار کولی شئ، چې خوشاله ووسئ؟ کوم بدلون په خپل ژوند کې مهم بولئ؟
- موږ په یوه مصرفي ټولنه کې ژوند کوو، چې زیاتره وګړي زموږ په تشویقولو سره هڅه کوي، په موږ هغه شیان واخلي، چې موږ ورته چندان ضرورت نه لرو، خو دوی پکې خپلې ګټې پالي. خو تاسې پوه شئ، خوښي زموږ له درون او د وجود له دننه څخه راپیلېږي، نه له هغو شیانو څخه چې موږ یې اخلو.
- خوښي او خوشالي له مهربان والي څخه سرچینه اخلي؛ کله چې عصباني او ناراحته وئ ډېره سخته ده، چې مهربانه ووسئ.
- د خپل ژوند په اوږدو کې د خپل زړه او د خپل وجود له غږ څخه پیروي وکړئ. که چېرې دا کار ونه کړئ، نو ډېر وروسته به پوه شئ، چې ژوند له تاسو سره دوکه کړې ده، خو دا وخت به ډېر ناوخته وي.
- ځینې وخت د نړۍ د خلکو ټول دردونه ، ناراحتی، ستونزې او غمونه زموږ پرماغزو هجوم راوړي؛ خو موږ باید پوه وو، چې موږ نه شوکولئ، له ټولو انسانانو سره مرسته وکړو. مګر دا کولی شو، چې پخپله یو منظم او منطقي ژوند ولرو او د نورو لپاره یوه ښه نمونه ووسو.
- یوازې زموږ جسم دی، چې زړېږي، خو ذهن موکولی شو په هره اندازه چې وغواړو ځوان وساتو.
- که چېرې د ژوند په هره لحظه کې ډاډمن وئ، چې د هغو کار له عهدې څخه بریالي وتلی شئ، چې ستاسو زړه یې غواړي، هېڅکله به په تېر وخت پسې ارمان ونه کړئ.
- کله چې زړبودی ته ورسېږئ، هېڅ وخت دا په یاد نه راوړئ، چې څرنګه پاک، ښکلي او قېمتي کور مو درلود، بلکې زیاتره په دې فکر کوئ، چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library




هغو چا سره چې ناسته ولاړه مو درلوده، ځومره خوشاله وئ او له ژونده مو څومره خوند اخیست.

- ځيني خلک په تېرمهال کې ژوند کوي او ځينې بيا د راتلونکي لپاره هرڅه پر سر اخيستي دي. خو که چېري غواړئ له ژونده خوند واخلئ، تږټولو ښکلی وخت همدا اوس دی او تږټولو ښکلې موقع، همدا اوس، چې ته پکې واقع يې، همدغه ده !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «ماکسول مالتز» فکرونه



- منفي فکرونه تخریبوونکي دي، تاسې مایوسی او ناهیلی ته تشویقوي.

- یوه خواره ژوند ته رسېدل په پرون پورې اړه نه لري، ټول شیان له همدا اوس څخه پیلېږي.

- تر اندازې زیاته اندېښنه، له تاسو سره هېڅ ډول مرسته نه شي کولی.

- که چېرې مو د ژوند یوه برخه تلف کړې وي، اوس خپل ځان د هغو په سبب مه تخریبوئ؛ تاسې په بشپړ ډول بې عیبه او بې نقصه نه یئ او نه بل انسان په اوسنی نړۍ کې داسې پیداکېږي، چې هغه دې هېڅ نیمګړتیا ونه لري. تاسې باید پوه وئ، له خفګان څخه هېڅ نه جوړېږي.

- ژوند له ښکلا ډک دی، ژوند له خوښیو ډک دی؛ باید منفي فکر دفن کړو او د خوښیو زیری او لوری تعقیب کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څوک چې پوهېږي، چې څرنګه د نېکمرغۍ او خوشالۍ لپاره له ځانه کار واخلي، د هغو لپاره د اندېښنې او نګرانۍ هېڅ ځای نشته.

- د تېر ژوند د تېروتنو په غم او اندېښنه کې خپل اوسنی ژوند پرځان باندې مه حراموئ.

- د شروع کولو لپاره هېڅ وخت ناوخته نه دی.

- تېرې ناکامۍ او تشویشونه هېرکړئ، هغه نور په تېر مهال پورې اړه لري؛ پرېږدئ هغه په تېره فضا کې ورک شي. د ژوند له اوسنۍ فضا سره ګام واخلئ او د تېرمهال په خالي فضا باندې کار مه لرئ.

- داسې دنده او کار غوره کړئ، چې تاسې ته په زړه پورې وي، هغه کار چې ستاسې پر روحیه باندې مثبت تاثیر لري او تاسې ورسره د خوشالۍ او بهترۍ احساس کوئ، ترهغو کار نه ډېر غوره دی، چې عاید یې ډېر زیات وي، مګر تاسې ورسره سرګردانه، مضطرب او له بې خونده ژوند سره مخامخ وئ.

- باید پر دې باندې پوه وئ، چې ستاسې د فراغت وختونه هم لکه د کار د وختونو په شان ارزښتمن دي، تاسې یو بشپړ انسان یاست، یوازې د کارکولو لپاره نړۍ ته نه یئ راغلي. تاسې کوم ماشین نه یئ، تاسې پخپله تاسې یاست، چې یوازې کولی شئ پرخپل شته والي او انسانوالي باندې د تائید مهر ولګوئ.

- اجازه ورنکړئ، چې منفي فکرونه، شکایتونه او له خپل ژوند څخه غیر لازمې ګیلې ګرمانې ستاسې د موفقیت غریزې خاموشې کړي. مه پرېږدئ چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزاحمتونه تاسې تر وخت مخکې زاړه کړي او له ژوند څخه مو لاس اخیستلو ته اړ کړي.

- د تېرو وختونو لپاره زړه تنګی د خفګان او د تنهايی د احساس اسباب دي، دداسې زړه تنګیو د فعالیت پروسه لغوه کړئ.

- د تنهایی له احساس سره موږ یو خلاق او فعال ژوند نه شو کولی.

- ستونزې او خطرونه په ژوند کې شته. انسان باید له ستونزو او خطرونو سره ژوند کول زده کړي. موږ باید د ژوند له سختیو سره مبارزه وکړو او له دې ټولو سره باید له ژوند نه خوند واخلو.

- که چېرې خپل ځان ته درناوی ونه لرئ، ستاسې هدفونه به چندان ارزښت ونه لري او که چېرې خپلو هدفونو ته ورسېږئ هم، کامیابي به مو کم رنګه وي؛ باید په خپل ضمیر کې مطمئن وئ، چې ښه فطرت لرم.

- ناامیدي، د تنهایی احساس، د ژوند له چارو سره زړه خوړل، متزلزله روحیه او د ناامنی احساس د شکست او ماتې وسایل دي.

- موفقیت یعنې د اشتباهاتو هېرول، د بدفکری له دایرې د باندې وتل، د ژوند له مناسبو لحظو سره همغږي کېدل او له خپل انسانیت سره همدردي احساسول.

- هره ورځ د خپلې بریا او کامیابی استعدادونه رافعال کړئ او دومره ادامه ورکړئ، چې د کامیابی عادت مو د وجود یوه برخه وګرځي.

- خپله پټه شتمني راوباسه، رښتیا دغه پټه خزانه څه شی ده؟ ستاسې پټ ثروت او شتمني یعنې ستاسې خلاقیت، ستاسې استعداد، ستاسې ذوق او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې کاري ورتیا... خو څنګه دغه شیان پټ ساتئ؟ ایا له انتقاده ډارېږئ؟ ایا خپل امکانات کم او ناقص وینئ؟ ... هر ژوندی انسان د قوت ټکي لري، هرچا ته ځیر شئ، یو شمېر داسې ټکي لري، چې د هغو له امله د ژوندي والي او مهم والي احساس کوي. خو که چېرې تاسې خپل دغه ډول ټکي کشف نه کړئ او خپلې پټې خزانې راونه سپړئ، هېڅوک به ورباندې خبر نه شي او ترټولو بده دا ده، چې حتی پخپله تاسې به ورباندې خبر نه شئ او له خپلو نعمتونو څخه به محروم پاتې شئ.

- له منفي احساساتو سره د جګړې ډګر ته ووځئ او په ژوند کې د خوشالۍ شبکه فعاله کړئ.

- ښايي مو د ډېرو ناکامیو تر تاثیر لاندې په یوه شکست خوړلي انسان بدل شو. ښايي تل په دغه ډار او توهم کې راشو، چې پخوا موفق نه وو او په راتلونکي ژوند کې به هم ماتې وخورو، خو په دغه تلقي او انګېرنه باندې مو خپل ذهني تصویر خرابوو او له خپله ځانه فاصله نیسو.

- که چېرې په ډېرو وختونو کې کوم ځل بریالی شوی وې، کولی شې په راتلونکي ژوند کې هم بریالی شې.

- تاسې کولی شئ له ډېرو ماتو او شکستونو څخه په زده کړه، نور له ماتې او شکست څخه فاصله ونیسئ.

- کوم هدفونه چې تاسې په نظر کې نیولي دي، هغه هره ورځ یوه نوې پیل او یوې نوې شروع ته اړتیا لري.

- منفي احساس ستاسې او ستاسې د هدفونو او استعدادونو ترمنځ فاصله اچوي او تاسې خپل ارزښتونه ترهغو کم وینئ، لکه څنګه چې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خپل ذهني تصویر ته په رسېدلو کې په ژوند کې تسلیمي، پرېښودنه او پاتې راتلنه بې مفهومه کېږي.

- د نړۍ نیمګړتیاو، کمبودیو او نواقصو ته ډېره اندېښنه مه کوئ، هڅه وکړئ هره ورځ خپل ژوند ته خوښي راولئ.

- د تېرو اشتباهاتو او تېروتنو له امله خپل ځان وبښئ، داسې ترخه خاطرات له خپل ذهن څخه وویځئ، کله چې تاسې خپل ځان ته ښښنه کوئ، د نورو خلکو د ښښولو ځواک هم پیداکوئ.

- ښایي تاسې ټولو هدفونو ته ونه رسېږئ، امکان هم نه لري، چې انسان خپلو ټولو هدفونو ته ورسېږي. د نړیوال نامتو شاعر«هوریس» په وینا«همېشه ستاسې ټول غشي هدف ته نه رسېږي»، تاسې یو انسان یئ، خپل زړه مه ماتوئ، تاسې یوه ورځ نه یوه ورځ لوی موفقیت ته رسېږئ، خو تر هغو پورې مه درېږئ، خپلې لارې ته دوام ورکړئ، خپلې هیلې مه پرېږدئ او خپل ځان ته انګېزه ورکړئ.

- تاسې د یوه انسان په توګه خپل فکرونه منظم کړئ، کوم څه چې په تاسو پورې اړه نه لري، هغه له خپل ذهنه وویځئ، یوازې خپل زړه ته ورشئ، وګورئ، غواړئ چېرته ورسېږئ؟

- که چېرې ستاسو لپاره د یوه «۵۰۰» مخیز کتاب لیکل ستړیکوونکي او خواشینوونکي وي، نو پوه شئ! لیکوالی کول ستاسې لپاره ارزښتمن هدف نه دی، که څه هم لوستونکي ستاسې دغه کتاب خوښ کړي. په دې ډول که چېرې ستاسې یو وړوکی هدف، ستاسې د خوشالی او کامیابی پر احساس څه در زیات کړی شي، نو دغه وړوکي هدف هم ستاسې لپاره خورا مهم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «سمویل سمایلز» فکرونه



- هغه وګړي چې اوس یې تاسې نومونه په ډېر قدر اخلئ، هغوی چې د پوهې او هنر په ډګر کې نومیالي او ستر ګڼل کېږي، هغوی چې نن یې تاسې نظرونو ته احترام لرئ او د قدر په سترګه ورته ګورئ او هغوی چې له مرګ وروسته اوس هم د وګړیو پر زړونو پاچاهي کوي؛ دوی په کومې ځانګړې ډلې، قوم او نژاد پورې تړلي نه وو، چې د هغوی په وسیله یې دومره پرمختګ کړای وي او دومره به ستر شوي وي، هغوی لکه تاسې غوندې عادي انسانان وو. څوک له ښوونځي راوتي، ځینې یې د پلورنځیو کارکوونکي وو، ځینې یې په خېمو کې زیږېدلي دي او ځینې یې هم په پاچاهۍ ماڼیو کې چوپړ کوونکي وو. له دې ټولو پرته د الله تعالی ډېر پیغبران په ډېرو غریبو کورنیو کې زیږېدلي دي، هغوی زیار ایستلی دی، غربت، لوږې، تندې او نورو یې هم مخه ډب نشوه کړئ؛ بلکې دې ستونزو او زحمتونو هغوی نور هم هڅولي، چې زیار وباسي، زحمت وګالي، د خپل زړه ټول ځواک له ځانه سره ملګری کړي، ترڅو په ستونزو بریالی شي.
- دا هېڅېږي نه دې لیدل شوي، چې د بریالیتوب وسیله دې لټې یا ټنبلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- موږ باید په دې باور ونه ووسو، چې تقدیر زموږ پښې او لاسونه راتړلي دي؛ موږ که چېرې په دې باور پاتې شو، چې موږ هېڅ یو او هېڅ مو له وسه نه دي پوره، نو د پرمختګ ټولې هیلې به مو له خاورو سره خاورې شي.
- زموږ وجدان، موږ ته چغې وهي، چې تاسې خپلواک یاست! تاسې خپلواک یاست! او تاسې خپلواکي یاست!، دغه خپلواکي موږ ته بل چا نه ده راکړې، بلکې زموږ خپله ده، زموږ په واک کې ده. دا زموږ خوښه ده، چې په ښې لاس کې یې اخلو او که په چپ. موږ د نړۍ د ښکلیو او په زړه پورې شیانو په واک کې نه یو؛ بلکې د نړۍ ښکلې او قیمتي شیان زموږ په واک دي. موږ د هغو څښتنان یو، دا زموږ خوښه ده، چې هغه د ځای لپاره منو او که نه؟
- مایوسي او ناهیلي یوه بلا ده، الله تعالی دې هر انسان له دې بلا څخه وساتي؛ که پرچا یې لاس پورته شو؛ نو له خاورو سره یې خاورې کوي. د هیلې او امید بېلګه د لمر غوندې ده، څوک چې ورته مخه کوي، نو ستونزې او غمونه یې لکه سیورې له مخې لرې کېږي.
- ځینې خپل ځان بدمرغه ګڼي او وایي چې اسمان له ماسره جوړ نه دی، تردې چې یو ځل مې له چا دا هم واورېدل چې«که زه د خولیو پلورل پیل کړم، نو د نړۍ وګړي به بې سرونو پیداکېږي!»، خو که د همدوی د وروسته پاتې والي او نه بریالیتوب لاملونه ولټول شي، خامخا به د دوی خپله بې پروایي، ځان نه اداره کول، بې ځایه لګښت او لټي وي.
- نړۍ د کړنو ځای دی، دلته باید هر انسان یوڅه نه یوڅه وکړي.
- کله چې په کار پیل کوئ، نو باید ترهغې یې پرې نږدئ، چې پای ته مو نه وي رسولی؛ ځکه یو وړوکی کار بشپړول له لسو نیمګړیو کارونو نه زرکرته ښه دی.
- که غواړئ چې کارونه مو ښه ترسره شي، نو خپله ورته ځان ښه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کله چې په انسان کې لټي او ټنبلي پخه شي، نو د انسان لاسونه او پښې په ځنځیرونو وتړي، خو که زیار له موږ سره په ژوند کې مل ؤ، نو کولی شو، دغه ځنځیرونه مات کړو. په زیار سره کولی شو، له لاسه وتلې پیسې بیا ترلاسه کړو، په زیار سره کولی شو، هېره شوې پوهه بیا راپه یاده کړو او په زیار سره کولی شو، حتی له لاسه تللې روغتیا بېرته راوګرځوو.

- زموږ په ټولنه کې یو ډېر بد دود داهم دی، چې غریب او ناداره وګړي یوازې په دې غم کې ډوب وي، چې څرنګه خپله ګېډه ډکه کړي. هغوی اروايي پرمختګونه بیخي په پام کې نه نیسي، زده کړې ته په نفرت ګوري او ډېر ارزښتمن کتابونه د دوی پروړاندې بې ارزښته وي. که په دوی کې دغه حس پیدا شو؛ یعنې له جسماني زیار سره یې اروايي زیار هم خپل کړ، نو وګڼئ چې دوی هم د کمال درجې ته ورسېدل.

- د ښه او غوره ژوندکولو زده کړه، د ښوونځیو او مدرسو له زده کړې ډېره ګټوره ده؛ ځکه د ښوونځیو او مدرسو زده کړې د کتابونو او کتابتونونو پورې تړلې وي؛ خو د ښه ژوند کولو زده کړه، انسان هره ورځ له ملګرو سره په ناسته ولاړه کې، په خپل کور کې، د ښار په کوڅو کې، په مارکېټونو او کارځایونو کې او هرځای چې له خلکو سره ناسته ولاړه وي، کولای شي دغه زده کړه ترلاسه کړئ. دا زده کړه لیک او لوست ته اړتیا نه لري، امکان لري، یو نالوستی کس تر لوستي کس نه ډېر ښه ژوند ولري.

- انسان باید په هغه کار خپل قیمتي وخت ولګوي، چې دده لپاره ترټولو زيات ارزښت ولري. زیار یوازې معمولي ارادو او درواغجنو غوښتنو ته نه وايي، اساني په زیار ګاللو رامنځته کېږي. یو اسان کار هم داسې نشته، چې یو وخت به ستونزمن نه ؤ، که نور یې نه منئ، تاسې ته قدم اخیستل اوس څومره اسان دي، خو په ماشومتوب کې مو همدغه قدم په څومره مشکله اخیست؟ موږ څومره ډېر لوېدلي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «باب پراکټر» فکرونه



- هر هغه څه چې ستا ژوند ته ننوځي، په حقیقت کې ته پخپله هغه خپل ژوند ته راکاږې او ستا د ذهني تصویر له امله هغه ستا په لور جذبېږي؛ دا ستا خپل فکر دی، هر هغه څه چې ستا په ذهن کې تېرېږي، همغه د ځان په لور جذبوې.
- څه فکر کوې، ولې د نړۍ یوازې یو فیصد اوسېدونکي پیسې ترلاسه کوي او هغه له ځانه سره لري؟ ایا فکر کوې، دا یوتصادف دی؟ نه دا تصادف نه دی، دا یوه پلان شوې طریقه ده، هغوی یوشی درک کړی دی... هغوی یوازې د نعمتونو او شتمنۍ فکر کوي یا د هغوی غالب افکار د شتمنۍ په شاوخوا راچورلي.
- ته هر هغه شی ترلاسه کوې، چې زیاتره ستا په ذهن کې تېرېږي.
- ته چې هرڅه وغواړې جذبوې یې، که پیسې غواړې، همغه به ترلاسه کړې؛ که خلکو ته اړتیا لرې، همغه به جذب کړې او که کتاب ته څه خاص گروهنه لرې، هماغه جذبوې. ته باید هغو شیانو ته چې تا جذب کړي پام وکړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه هرڅه چې ته غواړې، همغه په ذهن کې لرې او  همغه ستا په لور راځي.

- ځان په پرېمانه نعمتونو کې وګوره او  داسې فکر وکړه، چې په پرېمانه نعمتونو کې ژوند کوې، که داسې وکړې، هغه به جذب کړې، دغه چاره په هر پړاو کې او  د هر چا لپاره امکان لري.
- که یو څوک د پورونو  په هکله فکر کوي، دغه کس به تل پوروړی وي، هغه شی به جذب کړي، چې فکر يې کوي... ددې پرځای له خپله ځانه سره  په خپل ذهن کې  د پورونو د ورکولو یو پروګرام برابر جوړ کړه او  له هغه وروسته خپل فکر خوشالۍ او  خوشبختۍ ته متوجه کړه.
- کله چې ته ناروغي ولرې او  پرې تمرکز وکړې او  په دې اړه له نورو سره په شکایتونو سر شې، په حقیقت کې د ځان لپاره نوره ناروغي راجذبوې، داسې وانګېره چې روغ رمټ یې، پرېږده چې ډاکتر  ستا د ناروغۍ فکر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «ناپلیون هیل» فکرونه



- هر هغه شی چې د انسان ذهن یې تصورکولی او باورکولی شي، هغو ته رسېدلی هم شي.
- په یوه راز باندې ځان پوه کړئ؛ «خوښ او موفق ژوند، په رسمي تحصیل پورې اړه نه لري.»، د موفقیت دغه راز دټولو هغو کسانو لپاره خدمت کوي، چې مخکې له مخکې ورته چمتووالی ولري. «توماس اډیسون» له دغه راز څخه په بشپړ ډول ګټه اخیستې وه او د نړۍ په یوه لوی مخترع بدل شو. له یاده مه وباسئ، اډیسون تر دریو میاشتو زیات ښوونځي ته نه ؤ تللی!
- شتمن توب ترهرڅه وړاندې له یوه ذهني حالت څخه پیل کېږي... فکر وکړئ، چې شتمن شئ...موفقیت د هغه چا په نصیب کېږي، چې موفق ذهنیت لري او ماتې د هغو چا په نصیب کېږي، چې د ماتې او شکست ذهنیت ورپکې نفوذ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستاسې د ذهن هر فکر او هر تصور، عمل او اقدام زیږوي او په تدریج سره په یوه فزیکي واقعیت بدلېږي...فقر او بډایتوب دواړه ستا له ذهنه سرچینه اخلي... وګورئ ستاسې په ذهن کې څه تېرېږي؟
- زیاتره وګړي له خپلو باورونو څخه لرې پاتې کېږي او د نورو خلکو د باورونو تراغیز لاندې راځي. که چېرې په خپله تصمیم نیونه کې د نورو د ګډوډو نظریاتو او باورونو تر اغېز لاندې راشئ، پر خپل کار باندې نه بریالي کېږئ... تاسې د خپل ځان لپاره ځانګړی مغز او ذهن لرئ، ترهرڅه لومړی له هغو څخه کار واخلئ.
- زموږ او زموږ د هیلو ترمنځ بله هېڅ مانع نشته، پرته د یوه قاطع هدف له خلا څخه، چې هغه باید په همداسې قاطع هدف ډکه کړو.
- که چېرې نورو خلکو ته ستاسې ځینې اساسي فکرونه، هسې لېونتوب ښکاره شي؛ مه ورته اندېښمن کېږئ، له ډېرو لویو نوابغو او مخترعینو سره دغه چلند شوی. د ساري په توګه د رادیو مخترع «مارکوني» چې کله وویل، غواړي د هوا په څپو کې پیغامونه ولېږدوي، نو د خلکو له خوا د رواني ناروغیو روغتون ته یوووړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «وین ډایر» فکرونه



- که چېرې خپلې هیلې او غوښتنې په رښتیني ډول د خپل ذهن پر پرده انځور کړئ او په پوره شور او شوق د هغو د ثبیت لپاره په اقدام لاس پورې کړئ؛ په دې نړۍ کې به هېڅ وخت خالي لاس پاتې نه شئ.
- ستاسې ذهن یوه داسې سرمایه ده، چې تاسې ببوزلی ته نه پرېږدي او په پرله پسې او نه ستړې کېدونکې توګه افکار خلقوي.
- د ساه ایستل، د ځمکې پر مخ زموږ شتون او د اړیکو ساتل، معجزې دي.
- ژوند تل زموږ په خوښه نه درومي، دا د ژوند دستور دی، تر اوسه چې ځنګه تېر شوی، همداسې په تېرېږي.
- ته به هماغه ځوک شې، چې ټوله ورځ دې پرې فکر کړی وی او دا هم په یاد ولره، چې ستا ژوند هم له همدې ورځو جوړ دی.
- هڅه وکړه چې زاړه فکرونه دې پسې وانه خلي
- مثبت فکرونه، تاسې له کائیناتو سره همغږي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډارونکي او شکي افکار، زموږ کارونه له زړه نازړه توب او تزلزل سره مخامخ کوي. دا ډول افکار له ذهنه ووینځی او بریالیتوب په خپل وجود کې احساس کړئ.
- قصد او نیت په خپل ذهن کې وخوځوئ، وبه گورئ، ستاسې فزیکي وجود ورسره څومره په خوځښت راځي.
- له خپل نظر سره دغه جمله ملګرې کړه:«زه په خپلو هغو دوستانو ویاړم، چې دوی پر ما ویاړي!»
- هغه زینه نشته، چې تاسې په یوه گام د موفقیت بام ته پرې وخېژئ. ناچاره یئ، چې د موفقیت بام ته پله په پله وروخېژئ.
- که د کوم څه توان لرې او نه یې ترسره کوې، ډېر ژر به هغه توان له لاسه ورکړې.
- د ژوند اوسنی وضعیت د ژوند راتلونکی نه څرګندوي، ستا ژوند ستا انتخابونه ټاکي.
- که د سختیو پرمهال د لوړ نظر او حوصله خاوند نه وې، د هوساینې پرمهال به هېڅکله هم صبرناک او اغېزناک نه شې.
- ته فکرونه جوړوې او فکرونه دې هدفونه جوړوي او هدفونه راولاړېږي، واقعیتونه جوړوي.
- ددې پرځای چې ژوند یوه ترخه خاطره وګڼې، یوازې تجربه یې وګڼه.
- په نړۍ کې چې هرڅه شته، ستا د خدمت او استفادې لپاره راغونډ شوي، دا هرڅه ددې لپاره نه دي، چې ته یې خدمت وکړې.
- (زه یې لیاقت نه لرم!) دا هغه جمله ده، چې ډېر انسانان یې په کندو کې ورغورځولي. دا جمله ستاسې ارزښت کموي.
- له هر چا سره چې مخامخ کېدې، له شرط او دلیل پرته خپله مینه ترې قربان کړه او پسې ګوره چې پایله یې څه کېږي.
- ډېرې داسې ستونزې شته، چې ستونزې نه دي، بلکې د هغو ذهني لیدلوري پایله ده، چې ځینې مسئلې موږ ته په ستونزو اړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډېر داسې شیان چې خلک غوسه کوي، په دنیا کې نشته، خو د خلکو د فکرونو له لاسه پیدا شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «کاته‌رین پانډر» فکرونه



- راځئ نور هغه باور له منځه یوسو، چې وایي«فقر او بېوزلي د تقوی نښه ده»، فقر او بېوزلي یو پېژندل شوی مصیبت دی!
- خدای(ج) ستاسې پر فقیری او بېوزلۍ باندې راضي نه دی؛ ستاسې د نېکمرغۍ لپاره په نړۍ کې پرېمانه نعمتونه شته.
- هغه ذهنیت چې په فقر او بېوزلۍ باندې راڅرخي، یوازې منفي نتجې منځته راوړي.
- کله چې تاسې خپل ځان بریالی او موفق تصورکوئ؛ مهمه نه ده، چې سل په سلو کې منطقي فکر وکړئ؛ یوازې لوی فکر ولرئ.
- په ژوند کې د هرډول بریالیتوب او کامیابۍ د جذبولو لپاره هېڅکله دا فکر مه کوئ، چې زه خو فقیر او بېوزله یم!، د خدای(ج) د مهربانۍ له مخې حساب وکړئ، په پرېمانۍ فکر وکړئ او فرصتونه تعقیب کړئ.
- ستاسې فکرونه د باندې انعکاس مومي او همغه ډول شیان تاسو ته په مخه درځي، چې وخت ناوخت یې تاسې په فکر کې تاووئ. هغه وګړي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریالیتوب له قانون سره بلد دي، په فکر کولو کې احتیاط کوي، ځکه هغوی پوهېږي چې د مثبت فکر غبرګون د بریالیتوب سبب کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د «سپنسر جانسون» پنیر



## پنیر:

**د سپنسرجانسون په لاندې مهمو جملوکې د «پنیر» کلمه یوه استعاره او سمبول دی. پنیر یعنې: «هغه څه چې غواړو په ژوند کې یې ولرو، یا د یوې اوچتې دندې، د ښو انساني اړیکو، د غوره راتلونکې، د ښه کور، د ښو امکاناتو، د صحتمن بدن، د روحي آرامی، د لوړ اجتماعي شهرت، د لاس خلاصي ژوند، د خوشاله شیبو او د ډاډ وړ اقتصادي وضعیت د درلودلو هیله، ارمان او تصمیم»**

- د پنیر درلودل انسان خوشاله او فعاله ساتي.
- هرڅومره چې ستاسې پنیر مهم وي، په همغه اندازه د هغو د ساتلو او پاللو مَیل هم لرې.
- که چیرې بدلون ونه کړې، نابودیږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په هر وخت کې یوځل خپل پنیر بوی کړه، پام دې وي، چې درنه زوړ نه شي.
- په یوه نوي مسیر کې حرکت، له تاسو سره مرسته کوي، چې یو نوی پنیر پیدا کړئ.
- د یوه نوي پنیر تر پیداکولو وړاندې خپل ځان له هغو ښخه د خوند اخیستلو په حال کې تصور کړئ، دغه عمل تاسې د همدغه نوي پنیر په لور رهبري کوي.
- هرڅومره ژر چې زوړ پنیر خوشي کړې، هغومره ژر نوی پنیر لاسته راوړې.
- زاړه فکرونه او باورونه، تا د کوم نوي پنیر په لور نه شي رهبري کولی.
- کله چې پوه شې، چې کولی شم یو نوی پنیر پیداکړم او له هغو ښخه خوند واخلم، نو خپل مسیر ته تغیر ورکوې.
- وړو بدلونونو ته پاملرنه، له تا سره مرسته کوي، چې لوی بدلونونه په ژوند کې تطبیق کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند...



ژوند یو کتاب دی، چې ته یې لیکوال یې...

ژوند یوه سپینه کتابچه ده، چې د زیږیدنې پرمهال مو له مهربانه خدای(ج) څخه د سوغات په توګه اخیستې، موږ باید د هغې هره پاڼه په خپل فکر او عمل سره ډکه کړو او په پای کې یې مهربانه خدای(ج) ته وسپارو.... ژوند د داسې هدفونو مجموعه ده، چې یوازې ستا په لاس نظم او حقیقت مومي.

... د انسان ژوند د هغه د افکارو په محور څرخي، مثبت او امید ښښونکي فکرونه د انسان په ژوند کې جنت جوړوي، خو منفي او غمجن فکرونه د هغه دنیا په دوزخ اړوي...

تاسې د خپل برخلیك «سرنوشت» پنځوونکی یاست، ځکه چې ستاسې ژوند او سرنوشت، ستاسې باورونه او اندیښنې جوړوي.

...که چېرې د ښو پېښو پېښېدلوته په انتظار کې وئ، نو ډیرې ښې او خوږې پېښې به ستاسې په ژوند کې پېښې شي. که یو ښکلی ژوند په خپل ذهن کې جوړ کړئ، نو ډاډمن اوسئ، هغه څه مو چې په ذهن کې جوړ کړي، کولی شئ هغو ته د واقیعتونو په نړۍ کې واقیعت ورکړئ.      **«دوکتورازمندیان»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوچت ژوند ته د رسېدو لپاره اووه اقدامه



## لومړی: راتلونکي ته فکر وکړئ.

مثبت او موفق انسانان تر هرڅه وړاندې راتلونکي ته ګوري، هغوی ډېری وختونه د راتلونکي لپاره په فکر کې وي، هغوی په دې فکر کوي چې اوسنی مسیر یې په کومه خوا دی او په دې باندې کار نه لري، چې په تېرو وختونو کې څه پېښ شوي، هغوی تل د هغو څه په اړه روښانه او هیجان ښونکی تصویر لري، چې د دوی لپاره امکان لري. په همدې ډول د جذبولو د قانون پر اساس ټول راتلونکی د دوی د خیالونو او امیدونو په خوا ورجذبېږي.

## دوهم: خپل هدفونه وسنجوئ.

مثبت او خوشبخت اشخاص معمولاً هدف پلوي وي، هغوی زیاتره وخت د خپلو هدفونو په اړه غږېږي او د هغو په اړه فکر کوي. هغوی چې کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې انګېرنې او غوښتنې په خپل فکر کې مجسمې کړي، هغه بیا په روښانه اهدافو باندې بدلوي او هره ورځ ورباندې کار کوي، هغوی خپلې کړنې او پاملرنې راغونډوي او د خپل راتلونکي اهدافو لپاره يې تر کنټرول لاندې نیسي.

## دریم: په غوره توبونو «بهترینیو» کې فکر وکړئ.

موفق او مثبت خلک د غوره توبونو او بهترینتیاؤ په فکر کې وي، هغوی چې هرکار کوي، په ترټولو ښه ډول يې د پرمخ بېولو هڅه کوي، هغوی تل پرخپل ځان باندې کار کوي او یوه شیبه هم له بهترکېدو څخه نه غافلــېږي.

## څلورم: په حل لارې باندې فکر وکړئ.

موفق خلک په حل لارې پسې ګرځي؛ هغوی پخپله پر ستونزه دومره فکر نه کوي، لکه په حل يې چې فکر کوي. هغوی ددې پرځای چې د یو چا په تورنولو باندې فکر وکړي، پر دې تمرکز کوي، چې د حل لپاره باید کوم کار ترسره شي. هغوی د خلاقو فکري روشونو له لارې د خپلو او ګاونډیانو د خلاقیتونو په آزادولو او پارولو کې استفاده کوي. هغوی خپلو هدفونو ته د داسې مسایلو په سترګه ګوري، چې باید حل او فصل شي. هغوی باور لري، چې هره مسئله یوه منطقي حل لاره لري، هغوی تل د مسایلو د حل لپاره، همدغې لارې ته منتظر پاتې کېږي.

## پنځم: په نتایجو او پایلو کې فکر وکړئ.

یاد او ښاد خلک په خورا شدت سره د پایلو او نتایجو د لاسته راوړلو په هڅه کې وي. هغوی هره ورځ خپل ځان تر دقیقې ارزونې او پلانونې لاندې نیسي؛ د خپلو کړنو او فعالیتونو لپاره لومړی خپل لومړیتوبونه ځانته

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښانوي او وروسته په خپلو هدفونو او پلانونو باندې کار کوي، نوموړي تردې پورې هڅه کوي، چې په خپل کار کې د یوه فعال او موفق شخص په توګه څرګند شي. دغه اشخاص لکه څنګه چې فعال او لېوال وي، همداسې يې کارونه هم غوڅه مومي، چټک پرعمل لاس پورې کوي او خپلې نړۍ او کار ته تر نورو زیاته پاملرنه کوي.

## شپږم: په رشد او وده باندې فکر وکړئ.

موفق او بریالي اشخاص د ودې او پرمختیا غوښتونکي او پلټونکي وي؛ هغوی د خپلې پرمختیا لپاره زده کړه کوي، خلکو ته ګوري، رادیو ته غوږ نیسي او په مختلفو اجتماعي غونډو او منډو کې برخه اخلي. هغوی پوهېږي، چې راتلونکی په باصلاحیته خلکو پورې تعلق نیسي او هغو خلکو ته ورخپلېږي، چې تر نورو يې زیات ســرخلاصېږي. هغوی پوهېږي، چې په ژوند کې مبارزه او مسابقه پکار ده او ټول په دغه مسابقه کې ګډون لري، هغوی تل د خپل بریالیتوب په نیت او هیله په دغه مسابقه کې ورګډېږي.

## اووم: په عمل باندې فکر وکړئ.

د موفقو اشخاصو په باب ترټولو مهمه خبره دا ده، چې هغوی عمل پلوي خلک دي. تل دا فکر کوي، چې همدا اوس څه کولی شم، ترڅو په تېزۍ سره خپل هدف تعقیب کړم او په تېزۍ سره ور ورسېږم. هغوی په پرله پسې توګه په تلاش او حرکت کې وي، د اضطرار احساس کوي او د عادي او متوسطو اشخاصو په پرتله زیات او ماثر کار ته لاس اچوي. هرڅومره چې زیات کارکوي، هغومره بهتره نتجه لاسته راوړي او هرڅومره چې غوره نتایج لاسته راوړي، هغومره يې د پانګې او نورو لاسته راوړنو کچه مخ په بره ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انګیزه ښښونکي جملې



(c) ketabton.com: The Digital Library



## «قدرت»

کلام یو قدرت دی
وینا، خبرې او کلمې
نړۍ او انسان ته بدلون ورکوي.

«پاولو کویلو»

================================

## «د خپل ځان په اړه»

هغه فکر چې تاسې یې د خپل ځان په اړه کوئ
تر هغو فکر نه ډېر ارزښمتن دی
چې نور خلک یې ستاسې په اړه کوي.

«سنکا»

=================================

## «غوښتنه»

که ژوند ډېر څه نه درکوي
معنا یې دا ده، چې ډېر څه مو ترې غوښتي نه دي.

«مارسل پییره وو»

==============================

## «ژوند چا ته فرصت ورکوي؟»

لوی انسانان له ژوند څخه لوی څه غواړي
دوی د هغه څه غوښتنه کوي، چې ژوند یې وربښلی شي
واړه انسانان واړه هدفونه، وړې هیلې او وړې غوښتنې لري
او همیش سپک خیالونه په سر کې پالي ...
ژوند د هغه چا په اختیار کې زیات فرصتونه ورکوي،
چې د خپلو لویو ارمانونو په لټه راوتلي
او خپلو خیالونو ته یې د واقعیت ورکولو لپاره همت کړی.

«دوکتور ازمندیان»

==========================

(c) ketabton.com: The Digital Library



**«بریالیتوب»**

زړه نازړه خلک
هیڅ وخت نه بریالي کېږي.

«ناپلیون»

=======================================

**« د ژوند معنا »**

د سیند د بهېدو مخالف لوري ته حرکت، طاقت او شهامت غواړي که داسې نه وي، نو د سیند له جریان سره سم خو مړه کبان هم تللی شي.

«سمویل سمایلز»

=======================================

**«راز»**

ډېر ژوند کول، د ډېرو هیله ده
خو ښه ژوند کول، یوازې د څو محدودو کسانو

«لنگستون هیوز»

=======================================

**«انسان باید...»**

انسان باید تر خپلې زمانې د مخه وي،
که یوه دقیقه وي، یوه ورځ وي او که یو کال وي،
خو په ذهني او معنوي لحاظ، نه په جسمي او ظاهري لحاظ.

«خان ایوب خان اڅکزي»

=======================================

**«څه شی خطرناک دي؟»**

هغه څه چې خطرناک دي
پورته ختل نه دي
له پورته ځایه رالوېدل دي.

«فریدریش نیچه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



**« موږ د خپل ځان مسئول یو»**

موږ د خپل ژوند د بې معناوالي پړه
له ځان پرته په بل هیڅا باندې نه شو وراچولی.

«پاولو کویلیو»

==========================================

**« خپل ژوند په بله بڼه وګوره»**

که چیرې له خپل تېر ژوند څخه ناراضي وې،
ټوله ماضي هېره کړه، نوی داستان جوړ کړه او په هغو باور وکړه.

«پاولو کویلیو»

=========================================

**« د ژوند ښایست په...»**

د ژوند ښکلا او ښایست په دې کې دی
چې ګوندې وي، یوه ورځ زموږ خیالونه او امیدونه
حقیقت پیدا کړي.

«پاولو کویلیو»

========================================

**«لکه څنګه چې یئ، همغسې ووسئ!»**

څوک نه شي کولی، چې د ډېر عمر لپاره
ځان ته یو مخ او جهان ته بل مخ واغوندي.

«ایوب خان اڅکزي»

========================================

**«یوازې؛ ته!»**

د نورو پیښې مه کوه، هڅه وکړه خپل ځان وپېژنې
او سل په سلو کې پخپله ووسې!

«ډیل کارنیګي»

========================================

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «یوه انګېزه پاله خبر»

لټي او تنبلي هر کار سړي ته سخت او مشکل په نظر وروليي
خو کار او فعالیت هر شی اسانه ښیي.

«فرانکلین»

==================================

## «حرکت او برکت»

لټان دومره ورو حرکت کوي
چې فقر او تنګلاسي هغه په ډېره اسانۍ سره را ګیروي
خپل کارونه په مخه کړه، که داسې نه شول، هغه به تا په مخه کړي.

«فرانکلین»

==================================

## « یوازې کار...»

بخت او بریا هغه چا ته ورځي
چې په کار باور لري، نه په چانس.

«ناپلیون بناپارټ»

==================================

## « د ویدو کارونه»

د ویدو قومونو کارونه، لکه د ویده خوب، چې په سیند کې به لا مبي، خو لاس به یې لوند نه وي او هماغه شان به تږي وي.

«استاد ګل پاچاه الفت»

=================================

## «افتخار»

نه پوهېږم کوم بې عقل دا خبره کړې ده
چې بې خطره بریالیتوب افتخار نه دی
په داسې حال کې چې افتخار د هغه چا په برخه دی
چې له خطر څخه تښتېدلی وي.

«لافو شاردپر»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## « د انسان ژوند...»

د انسان ژوند د اوسپنې په شان دی
که کار ورڅخه واخیستل شي، ځلانده کېږي
او که کار ورڅخه وانه خیستل شي، زنګ یې خوري.

=====================================

## «آیا پوه شوي یاست؟»

د ژوند د بدلون امکان شته
نورو دا کار کړی دی.

=====================================

## «زړور توب»

زړورتوب په دې کې نه دی
چې سړی له خطر سره مخ نه شي
زړورتوب په دې کې دی
چې په خطر باندې بریالی شې.

=====================================

## «حرکت او دوام»

ژوند د بایسکل سوارۍ په شان دی
ددې لپاره چې خپل تعادل وساتې
باید حرکت ته دوام ورکړې او پرمخ ولاړ شې.

«البرټ انشټین»

=====================================

## « لوی زیان»

بیکاري د انسان ټولې وړتیاوې او صلاحیتونه له منځه وړي.

=====================================

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «ارزښتناکې بریاوې»

د ژوند ارزښتناکې بریاوې تل د مبارزې په پای کې ترلاسه کېږي
نه د مبارزې په پیل کې .

==========================================

## «توپیر»

د ټولو انسانانو وینه یو رنګ ده
خو وړتیاوې یې د اسمان او ځمکې په اندازه توپیر لري.

==========================================

## «هڅه او زیار»

چېرته چې هڅه، زیار، کوشش او مبارزه نه وي
فضیلت او تقوا هم نه وي.

«برنارډ ن»

==========================================

## «بیا هم فرصت دی...»

د ځان سموني او ځان جوړوني لپاره
هېڅ وخت، ناوخته نه دی.

==========================================

## «بریالیتوب ته څوک نږدې دی؟»

کوم ځوان چې لږ وړتیا، خو کلک هوډ او پخه اراده ولري
ترهغه ځوان چې ډېره وړتیا، خو سست هوډ او خامه اراده ولري؛
بریالیتوب ته نږدې دی. «جیمز رایلي»

==========================================

## «تر څو ژوندی یې...»

که څوک فکر کوي، چې نور پرمختګ ته اړتیا نه لري
باید ځانته تابوت تیار کړي.

«ډاکتر مارډن»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «غښتلی هوډ»

کمزوری هوډ د خبرو او لاپو په بڼه ښرګند یږي
او غښتلی هوډ د کار او عمل په بڼه.

«ګوستاولوبون»

======================================

## « خبر تیا!»

په یاد وساتئ! ستاسې ژوند
یوازې په چانس او نصیب سره نه خلاصه کیږي!

=====================================

## « راز »

غښتلي خلک مخکې له دې چې هدف ته ورسي
د خپل زړه په آیینه کې ځان غښتلیویني!

=====================================

## «یو جادویي عبارت»

عمل تر الفاظو
په لوړ آواز غږیږي!

=====================================

## «راز»

څوک چې ډېر ځي
ورو ځي.

=====================================

## «مطلقه ناکامي»

ناکامي دا نه ده، چې خپل هدف ته ونه رسیږې
بلکې ناکامي هغه ده چې هیڅ هدف ونلرې!

==========================

(c) ketabton.com: The Digital Library



**«راز»**

که چېرې خپل ځان توانمند احساس نه کړې
هېڅ وخت به دې توانايي څرګنده نه شي!

========================================

**«څنګه شروع وکوو؟»**

د شروع کولو بهترينه لار
شروع کول دي.

«خان ايوب خان اڅکزی»

========================================

**«راز»**

که چېرې نه پوهېږې، چې چېرته ځم
هېڅ ځای ته به ونه رسېږې.
«مارک فيشر»

========================================

**«راز»**

هغه څوک چې پر ځان باندې اطمناني وي
هغه د نورو خلکو تعريف او ستاينې ته اړتيا نه لري.

========================================

**« څنګه له بحث نه بريالی راووځم؟»**

په بحث کې د بريالیتوب غوره لار
په بحث کې ګډون نه کول دي.
«ډيل کارنيګي»

========================================

**«موقع د چا لپاره؟»**

موقع يوازې د هغو خلکو لپاره وي
چې هغوی موقع کارولی شي
او څوک چې د موقع په کارولو کې ناکام وي
د هغو لپاره يوه موقع هم موقع نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «هدف ولرئ»

هدف

چلند او عمل زیږوي. «سپنسرجانسون»

=========================================

## « د عزت مقام»

که ته غواړې د خلکو په منځ کې ځای پیدا کړې
نو ته د خلکو ضرورت وګرځه
که خلک پوه شول، چې ته د دوی په ښه ورتللای شې
بیا نه شي کولی پر تا باندې سترګې پټې کړي.
«مولاناوحیدالدین خان»

=========================================

## « له امیده زیات بریالیتوب»

د موفق او کارپلوه سړي یوازنۍ نښه دا ده
چې له امیده زیات کار کوي
کوم خلک چې هڅه کوي، له توقع او امیده زیات کار وکړي
د هغوی له امیده زیات بریالیتوب هم په برخه کېږي.

=========================================

## «بدلون»

ځینې افراد په خپله دنده، خپل مسلک، خپل کور، خپلو دوستانو او خپلو ملګرو کې ادلون بدلون راولي، مګر هېڅکله د خپل ځان په بدلون کې فکر نه کوي. «کنټ بلانکارد»

=========================================

## « وخت د چا لپاره ارزښت لري؟»

د کوم انسان ژوند چې بې هدفه وي
د هغه په نظر کې وخت کوم ارزښت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «د خوشالۍ راز»

خوشالي منزل نه ده، چې هغه ته دې سړی ځان ورسوي، بلکې دا د سفر کولو یوه طریقه. چاچې خوشالي خپل منزل ګرځولې وي، هغه خوشالي نه شي ترلاسه کولی. خوشالي یوازې د هغه چا په برخه ده، چې د هغه له خوښۍ پرته خوشاله اوسېدل هم زده وي.

==========================================

## «د انسان یوه مهمه ځانګړتیا»

د انساني شخصیت په ګڼ شمېر ځانګړتیاوو کې
د انسان یوه حیرانوونکې ځانګړتیا دا ده
چې یوه «نه» په «هو» بدلولی شي.

«الفرایډ ایډلر»

==========================================

## «د انسان اراده»

انسان هغه دی
چې له خپله ځانه یې جوړوي.

«ژان پل سارتر»

==========================================

## «انسان کولی شي...»

انسان په تیاره کې هم د رڼا لوری لیدلی شي
هغه کولی شي نابرابر حالات د ځان په ګټه واړوي
کله چې هغه د ژوند په لوبه کې هرڅه وبایلي
کولی شي د ځان لپاره بیا نوی ډګر پیدا کړي.

==========================================

## «قوت»

قوت د متو په زور کې نه
د ارادې په زور کې دی.

«هربرټ سپنسر»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «ورکړه د لاسته راوړلو مقدمه ده»

له چا سره چې د ورکړې لپاره څه نه وي
هغه په دې نړۍ کې څه نه شي ترلاسه کولی.

==========================================

## «موقع»

د شته موقع کارول
د بریالیتوب دویم نوم دی.

==========================================

## «یوازنۍ لاره»

د بریالیتوب، پرمختګ، شهرت او پیسو ترلاسه کول
د مادي او معنوي اړخونو پیاوړتیا او د بېلابېلو امتیازاتو
او اهدافو د ترلاسه کولو یوازینۍ لاره د انسان فکر دی.

==========================================

## «لوی راز»

ستاسو ذهن ستاسو ترټولو ښه ملګری کېدلی شي
یا ترټولو ستر دښمن
دا یوازې ستاسې فکر دی، چې له تاسو څخه ځواکمن یا کمزوری
مالداره یا غریب، مشهور یا نوم ورکی جوړوي.

«برایان ټریسي»

==========================================

## «حتماً یوه د حل لاره شته!»

تاریخ راښیي، انسان خپل ژوند هر وخت په ستونزو او مشکلاتو کې پیل کړی دی؛ خو بیا هم د انسان لپاره یوه پرانیستې لاره وي او د امید څرک لیدل کېږي؛ خو دا لاره د هغو خلکو لپاره وي، چې هغوی د لارې له بندو دروازو سره سرونه نه وهي، بلکې له نورو خواؤ د ځان لپاره یوه چوله پیدا کوي... که پېښې هرڅومره درنې او غتې وي، خو د هغو د تلافي امکان د انسان لپاره پیدا کېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. په دې نړۍ کې هېڅ داسې شی نشته، چې انسان دې دومره له پښو وغورځوي، چې هغه د بیا لپاره د ژوند پیل کولو وړتیا ونه لري او ودې نه شي کړای، چې خپل ژوند د دوهم ځل لپاره په نوي بڼه پیل کړي.

========================================

## «نامکن»

د «ناممکن» لغت له خپلو قاموسونو څخه وباسئ
دغه لغت د ناپوهانو په قاموس کې پیدا کېږي.

«ناپلیون»

========================================

## «اړینه خبر»

پیسې د ژوند لپاره،
نه ژوند د پسو لپاره

========================================

## «راز»

که بری په لومړی ګام لاس ته راوړل کېدی
هڅه او زیار به بې معنا وو.

«موریس میترلینګ»

========================================

## «راز»

هېڅ وخت د موفقیت د زینې پر سر ګڼه ګوڼه نه ده.

«ناپلیون هیل»

========================================

## «که غواړې...؟»

که غواړئ خپل ژوند له محدودیت، تنګلاسۍ او ورک نومۍ څخه وباسئ، نو لومړی خپل فکر، خپل احساس، خپل هدف او خپل ارمان ته پراختیا ورکړه او بیا خپلو هڅو او کوششونو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «اعتراف»

په ایمان باندې اعتراف
د سړي په اعمالو او کړو وړو کې ځرګندېږي
نه په خبرو کې.

«پائولو کويلو»

=========================================

## « ژوند په شا نه راګرځي»

تاسې کولی شئ، د خپلو زامنو په شان شئ
مګر ونه غواړئ، هغه د خپل ځان په شان کړئ
ځکه چې ژوند په شا نه راګرځي او نور هاغه پرون نه دی پاتې.

«جبران خليل جبران»

=========================================

## « د انسان ارزښت»

د انسان ارزښت په هغو څه کې نه دی، چې په لاس يې راوړي
د انسان ارزښت په هغو څه کې دی، چې د لاسته راوړلو سخت ارمانجن يې دی

«انتهوني رابينز»

=========================================

## «چانس»

ترڅو چې چانس ونه ازمويې
چانس به ونه لرې.

«وين ډاير»

=========================================

## «ګل او لمبې»

کله چې ستا په زړه کې د اور لمبې وي
نو ښکته تمه لرې
چې په لاسونو کې دې ګلونه وغوړېږي.

«جبران خليل جبران»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «تر ټولو هوښیار»

هغه څوک چې مشکلات د ژوندانه د طبعي شرط په توګه ومني
او د خوښۍ درلودل، یعنې د مشکل نه درلودل ونه مني
تر ټولو هوښیار او نادر خلک دی. «وین ډایر»

==========================================

## «راز»

انسان پر خپل ځان مَین دی، انسان پرخپل خوی مَین دی، همدا سبب دی، چې یو انسان بل هغه انسان د صمیمي دوست او ملګري په توګه مني، چې د ده خوی ته ورته خوی پکې وي.

==========================================

## «متفاوته هیله»

اوږد ژوند د ټولو هیله ده
مګر ښه ژوند د ډېرو کمو. «وین ډایر»

==========================================

## «خبرتیا»

که غواړئ له خپل راتلونکي څخه په بشپړه توګه خبر شئ
نو خپلو فکرونو او ذهنیتونو ته وګورئ.
«باربارادي انجلیس»

==========================================

## «زده کړه»

که په ژوند کې هرڅه په ځنډ سره منځته نه راتلی
هیڅکله به مو صبر او زغم نه وای زده کړی
که له سختیو او مشکلاتو سره نه مخامخ کېدلی
هیڅکله به مو هڅه، ثبات او استقامت نه وای زده کړی
که له ناهیلۍ، عاجزۍ او خفګان سره نه مخامخ کېدلی
هیڅکله به مو ایمان نه وای پېژندلی... «باربارادي انجلیس»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «اختیار اخیستل»

کله چې نور خلک د خپلې ناخوښۍ سبب معریفي کوئ
د خپل ژوند د بدلولو قدرت نورو ته ورپرېږدئ.

«جان ګري»

=====================================

## «د مرستې شرط»

خدای(ج) ترټولو لویه مرسته او کومک هغه وخت کوي
چې په خپل ټول توان سره څه ترسره کوې.

«جان ګري»

=====================================

## «شک»

په خپلو شکونو
شک وکړه

«جان ګري»

=====================================

## «ارزښت»

حماقت او ناپوهي یعنې هغو څه ته ارزښت ورکول
چې ارزښت نه لري.

«جان ګري»

=====================================

## «راز»

د «باید هغه کار وکړم» عبارت
تر «باید یو کار وکړم» عبارت نه زیاتې ستونزې حلوي.

«ډبي فورد»

=====================================

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «خامه هیله»

هیله لرم، چې د نورو په پرتله ځانګړی او غوره دریځ ولرم، په داسې حال کې چې کټ مټ د نورو په شان چال چلند او کړه وړه ترسره کوم.

«ډبي فورد»

==========================================

## «خوښي چېر ته ده؟»

خوښي په شیانو کې نشته
په موږ کې ده.

«ډبي فورد»

==========================================

## «موقعیت»

دا موقعیت نه دی، چې انسان جوړوي
بلکې دا انسان دی، چې موقعیت پنځوي.

«برایان ټریسي»

==========================================

## «عادت»

د سمو عادتونو جوړول سخت
مګر ژوند ورسره آسانه دی.

«برایان ټریسي»

==========================================

## «پوښتنه»

د وروستي ځل لپاره مو چې ماتې خوړلې، آیا کوشش مو کړی، چې خپل تلاش د ماتې په خاطر ودروئ او که مو په دې خاطر ماتې خوړلې، چې له تلاشه مو لاس اخیستی؟

«برایان ټریسي»

==========================================

(c) ketabton.com: The Digital Library



## « مکمن که سم؟ »

مخکې له دې چې پوه شئ، د کوم کار ترسره کول ممکن دی، لومړی وګورئ، چې د کوم کار ترسره کول سم دي.

«برایان تریسي»

========================================

## « د ناستې پاستې ارزښت»

له بریمنو او ګټونکو سره ناسته پاسته له تاسو څخه بریمن او ګټونکی جوړوي او له پس پاتو او بایلوونکو سره ناسته پاسته، له تاسو څخه پس پاتې او بایلونکی جوړوي.

«بریان تریسي»

========================================

## « له هېڅ نه تر هرڅه پورې»

د موفقو خلکو داستان، یو داسې داستان دی
چې له «هېڅ» څخه یې شروع کړې
او ارزښتمنو پایلو ته رسېدلي.

«برایان تریسي»

========================================

## «یوازې یو پیغام»

یوازې یو پیغام کولی شي
د تاریخ بستر د تل لپاره بدل کړي
کرکو، رنځونو او نابرابریو ته د پای ټکی کېږدي
او یو ځل بیا موږ د خدای(ج) په لور راوګرځوي
هغه پیغام دا دی
«موږ ټول یو، یو»

«نیل دونالد والش»

========================================

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «یوه مهمه پوښتنه»

تر ټولو مهمه پوښتنه چې بشري نژاد ورسره مخامخ دی، دا نه ده، چې تاسې څه موقع له ژوند څخه زده کړه کوئ؛ بلکې دا ده، په هغو څه چې زده کړي مو دي څه وخت عمل کوئ؟

«نیل دونالد والش»

=========================================

## «ارزو یا هدف»

عادي خلک امید او ارزو لري

او پرځان باوري خلک، هدف او پروګرام

«برایان تریسي»

=========================================

## «سن»

سن فقط یو عدد دی.

«دیپاک چوپرا»

=======================================

## «د نااُمیدانو راتلونکی»

د نا امیدانو په راتلونکي کې

هیڅ ډول نوې پېښه نه رامنځته کېږي.

«ډېوډ برنز»

========================================

## «د افکارو زېږېدنه»

نیمی افکار په ذهن کې

او نیمی نور د عمل په ډګر کې رامنځته کېږي.

«فیلیپ مک ګرا»

=========================================

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «خپلې هیلې بابېزه مه ګڼئ!»

د ژوند ستنې پرهیلو او آرزوګانو ولاړې دي، که د انسان له سترګو د هیلو څرک لرې شي، د دنیا څېره به ډېره وېرونکې شي.

«مجید رشید پور»

==========================================

## «نن، نن دی!»

د هرې ورځې حساب بېل او جلا وي
نن، نن دی او هېڅ رابطه له پرون او سبا سره نه لري.

«ډیل کارنیګي»

==========================================

## «راز»

چانس د هرچا دروازې ته راځي
موفق خلک هغه دي
چې د خپلې دروازې ټک ټک واروي

«نرون کیوډومانټ»

==========================================

## «له ځانه یې لرې کړئ!»

ستاسې هر فکر، نظر او عمل باید ستاسو له غوښتنو سره همغږی وي او که کوم فکر، نظر او عمل مو له غوښتنو سره مخالف ؤ، له ځانه یې لرې کړئ.

«نیل دونالد والش»

==========================================

## «دوه ډوله کار»

د یوه انسان توانایي په هغو کارونو کې نه ده
چې پیل کړي یې دي
بلکې په هغو کارونو کې ده
چې پای ته یې رسولي دي.

«فیلیپ مک ګرا»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «راز»

هېڅ شی نه شي کولی، د مقاومت ځای ونیسي، استعداد نه شي کولی، ځکه ډېر بااستعداده خلک پاتې راغلی. تحصیلات نه شي کولی، ځکه زموږ شاوخوا له ډېرو داسې بې کارو، بې حاصلو او نوموړکو لوستو او تحصیل کړو خلکو ډکه ده، چې څوک یې په کیسه کې هم نه دي. یوازنی شی کلکه اراده او سخت مقاومت دی، چې لایتناهي قدرت لري.

«کالوین کولیچ میلیو»

==========================================

## «دوه بد شیان»

بد کار ته په بدچلند سره ځواب مه ورکوئ
ځکه د دوو بدو شیانو جمع کول
مساوي دي، د دواړو په هرڅه له لاسه ورکولو باندې.

«پراوین ورما»

==========================================

## «ډاډ»

هر کله چې له آرامی، سکون او اطمنان څخه لرې کېدلې
خدای(ج) ته غږ وروکړه.

«نیل دونالد والش»

==========================================

## «راز»

هغه بې فکره، لټ او ناپوه وګړي، چې یوازې د مسایلو ظاهري ښې وېني، نه په خپله مسایل؛ زیاتره له بخت، چانس او تصادف څخه خبرې کوي.

«جیمز آلن»

==========================================

## «د موفقو اشخاصو باور»

موږ دنیا ته ددې لپاره راغلي یو
چې یو بې ساری او بې نظیره ژوند وکړو. «برایان ټریسي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «راز»

هغه څوک چې د هرشي په اړه فکر کوي
د هيڅ شي په اړه تصميم نه نيسي.

«چيني متل»

==========================================

## «فکر»

فکر د ټولو کارونو
مقدمه ده.

==========================================

## «راز»

که چېرې له ماتې او ناکامۍ نه وروسته
بيا هم د شجاعت احساس وکړې
په دې پوه شه، چې ټول شيان مو له لاسه نه دي ورکړي.

«وي.جي. بټرا»

==========================================

## «مشخص هدفونه تعقيب کړئ»

آرامي او نېکمرغي د اهدافو په راکمولو کې ده
نه د هغو په زياتولو کې.

«باري شوارتز»

==========================================

## « بخيلي هېڅکله نه...!»

د نورو نېکمرغي
زموږ د نېکمرغۍ يوه ځانګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرچيني:


1. پیامهای کوتاه برای موفقیت های بزرگ، گردآورنده: م. حیدری
2. فکر تان راعوض کنید تا زندگیتان تغیر کند، نویسنده: برایان تریسی، مترجم: مهدي قراچه داغي
3. قورباغه را قورت بده!، نویسنده: برایان تریسی، مترجم: شهره رهبرآزاد
4. کتاب نکته های کوچک زندگی «جلد اول و دوم»، نویسنده: اچ جکسون براون، ترجمه: شبنم خوشبخت
5. بین خود و خدا پُل بزنید!، گردآورنده: آرزو صادقي
6. یک روز را ۳۶۵ بار تکرار نکنیم، به کوشش مسعودلعلی
7. کتاب کوچک برزگ آگاهی زنان، نویسنده: جودی اشبرگ، مترجم: سوگند رحماني
8. چه کسی پنیر مرا جابه جا کرد؟، نویسنده: سپنسرجانسون، ترجمه: مریم بهرامی
9. روان شناسي خلاقیت، نویسنده: ماکسول مالتز، مترجم: مهدي قراچه داغي
10. جادوی فکر بزرگ، نویسنده: دیوید شوارتز، ترجمه: ژنابخت آور
11. دژوند راز، لیکوال: مولانا وحیدالدین خان، ژباړن: محمد وزیرحامد
12. موفقیت «پنجا کتاب دریک کتاب»، نویسنده: تام باتلربون، ترجمه: صادق خسرو نژاد
13. فقط غیرممکن، غیرممکن است، نویسنده: انتوني رابنیز ، ترجمه: مسعود لعلی
14. معجزه در درون توست!، نویسنده: جیم ران، ترجمه: زینب فرجي
15. پرځان ویسا، لیکوال: ډاکترسمویل سمایلز، ژباړن: هجرت الله اختیار
16. بیندیشید وثروتمند شوید، نویسنده: ناپلیون هیل، ترجمه: مهدی قراچه داغي
17. رازهای تکنولوژی فکر« جلد اول، دوم و سوم»، نویسنده: دوکتورعلیرضا آزمندیان
18. «راز»، لیکواله، رهونډا بیرني، ژباړن: ډاکترمحمدعیسی ستانیکزی
19. دژوند رازونه، لیکوال: وین ډایر، ژباړن: پوهیالی شرف الدین عظیمي
20. او ګڼې انټرنېټي پاڼې

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**